# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۰۵) ګڼه / دوشنبه ۰٤ جمادی الاول ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۰۷ قوس ۱٤۰۱ هـ.ش / ۲۸ نوامبر ۲۰۲۲ میلادی


د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال:

## دا وطن به ابادوو او پرځان بسیا افغانستان به جوړوو!

شریعت: د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر پرون د لغمان ولایت له یو شمیر پخوانیو قومندانانو، قومي مشرانو او امنیتي مسؤلینو سره وکتل.

په دې کتنه کې د لغمان ولایت د دولت شاه او الیشنګ ولسوالیو یو شمېر پخوانیو امنیتي مسؤلینو، قوماندانانو، قومي مشرانو او سپین ږیرو له اسلامي امارت څخه بشپړ ملاتړ اعلان کړ او خپلې غوښتنې یې د ریاست الوزراء له سیاسي مرستیال سره شریکې کړې.

دوی ټینګار وکړ، چې اسلامي نظام د هر چا ارمان دی، نور د جګړې لپاره کومه بهانه نه ده پاتې، اوس عمومي ښبنه شوې او داد یې ورکړ، چې هیچا ته به اجازه ورنه کړي، چې په خپله سیمه کې تخریبي کړنې ترسره کړي.

هغوی په لغمان ولایت کې د نورو پرمختیایي پروژو په پلي کولو کې د اسلامي امارت د رهبرۍ د پاملرنې غوښتنه وکړه او ... ۷مخ

## د افغانستان کرکټ بورډ له متحدو عربي اماراتو سره پنځه کلن هوکړه لیک لاسلیک کړ

د افغانستان کرکټ بورډ اداري ویلي چې د متحدو عربي اماراتو له کرکټ بورډ سره یې د همکارۍ پنځه کلن هوکړه لیک لاسلیک کړ... ۷مخ



وزیر صنعت و تجارت در دیدار با سرمایه‌گذاران ایرانی:

## امارت اسلامی تسهیلات خوبی را برای سرمایه‌گذاران خارجی فراهم نموده است

شریعت: نورالدین عزیزی سرپرست وزارت صنعت و تجارت، در دیدار با شماری از سرمایه‌گذاران جمهوری اسلامی ایران، روی برنامه‌های آنان در رابطه به چگونگی سرمایه‌گذاری درافغانستان به بحث پرداخت.

وزارت صنعت و تجارت، با نشر خبرنامه‌یی گفته است که در این دیدار، نورالدین عزیزی، از سهولت‌های ایجاد شده از سوی امارت اسلامی برای ... ص۷

د روغتیا وزیر:

# روغتیايي پروګرامونه باید د سیاسي موخو ښکار نه شي

شریعت: دعامې روغتیا سرپرست وزیر ډاکټر قلندر عباد د انتي بیاتیک پر وړاندې د مقاومت کنفرانس (Anti-microbial Resistance ) ته په وینا کې ویلي چې انتي بیاتیک (AMR) نه یوازې افغانستان ته بلکې، نړیوال روغتیایي سیستم ته هم جدي ګواښ دی . د باختر آژانس د خبر له مخې؛ ډاکټر قلندر عباد په خپله وینا کې د انتي بیاتیکو پر وړاندې مقاومت یا AMR نړیوال روغتیایي سیستم ته جدي ګواښ وباله او زیاته یې کړه، چې د نړۍ زیات شمېر هېوادونه په ځانګړي ډول مخ پر ودې هېوادونو د وګړو روغتیا ګواښي.

ډاکټر عباد دغه راز زیاته کړه، چې نه یوازې په افغانستان کې بلکې د نړۍ په نورو مخ پر ودې هېوادونو کې هم خلک د مکروب ضد درملو په مصرف کې پاملرنه نه کوي او دا درمل په غیر معقوله توګه استفاده کوي، چې دا ډول کار د Antibiotics په مقابل کې مقاومت ډېروي.

نوموړي وویل، چې افغانستان د AMR سره د مبارزې په برخه کې ژمن دی او همدې موخې ته د رسېدو لپاره یې په دې برخه کې National Action Plan په بیا کتنې کار پیل کړی، چې په ۶ اهدافو تمرکز کوي. ډاکټر عباد د دې پدیدې سره د مبارزې لپاره د یوې جامع پالیسۍ جوړول او د پالیسۍ د تطبیق په برخه کې د لازمو مالي منابعو شتون او په لوړه کچه تعهد زیات اړین وباله او د نورو هېوادونو په ځانګړي ډول د پرمختللو هېوادونو څخه یې غوښتنه وکړه، چې دې موضوع ته جدي پاملرنه وکړي. هغه د بېلابېلو هېوادونو د روغتیا او زراعت وزیران او معینان مخاطب کړل، چې د روغتیا پروګرامونه باید د سیاسي موخو ښکار نه شي او که روغتیایي پروګرامونه د سیاسي اجنډاوو او موخو تر تاثیر لاندې راشي دا به د سلګونو زره ماشومانو، میندو، او د لوړ عمره کسانو پر روغتیا اغیزې وکړي.

## هرات کې شاوخوا ۶۰ زره جریبه امارتي ځمکه تثبیت شوه



د تېرو دوو ورځو په لړ کې د کابل، دایکندي، نورستان، پروان، غور، بدخشان، هرات او لغمان ولایتونو کې د غصب د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د تشخیص او تثبیت تخنیکي هیئت خپلې غونډې او عملي ... ۷مخ

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال:

## د بې ځایه شویو او راستنېدونکو کډوالو ستونزې حل کوو

شریعت: د مهاجرینو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت تخنیکي او مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د بغلان ولایت د خواجه الوان د مهاجرینو ښارګوټي څخه لیدنه وکړه.

د خواجه الوان په ښارګوټي کې شاوخوا ۲ زره ۴۰۰ راستنېدونکي ژوند کوي، چې د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د دغه ښارګوټي د اوسېدونکو ستونزې واورېدې او هغوی ته یې داد ورکړ، چې د مهاجرینو چارو وزارت د مرستندویه بنسټونو سره په همغږۍ د راستنېدونکو او بې ځایه شویو د ستونزو د حل لپاره هلې ځلې کوي. ۷مخ

د بهرنیو چارو وزیر په ولایتونو کې خپلو استازو ته:

## د اسلامي امارت د اقتصاد محوره پالیسي د عملي کېدو په موخه، سوداګرو ته لازمې اسانتیاوې برابرې کړئ

شریعت: د بهرنیو چارو سرپرست وزیر مولوي امیرخان متقي د نیمروز ولایت د بهرنیو چارو په ریاست کې له اړوندو مسؤلینو سره ناسته وکړه او هغوی ته یې په اړونده چارو کې لازمې سپارښتنې وکړې.

امیر خان متقي په دې کتنه کې وویل، چې د اسلامي امارت د متوازني او اقتصاد محوره پالیسۍ د عملي تعقیب په موخه لازمه ده، چې سوداګرو ته تسهیلات برابر کړي تر څو د ورېښمو له لارې افغان سوداګرو ته د صادراتو او وارداتو ښه زمینه برابره شي.

دغه راز د بهرنیو چارو وزیر د نیمروز د بهرنۍ نمایندګۍ د مسؤلینو کړنې وستایلې او هغوی یې وهڅول تر څو خپل خدمتونه... ۷مخ

د عامې روغتیا وزارت:

## ۳۸۰ ماشومان د شري ناروغۍ له امله مړه شوي

شریعت: د عامې روغتیا وزارت وايي، چې په ټول هېواد کې یې د شري واکسین لس ورځنۍ کمپاین پیل کړی، چې په مرسته به یې په مرکز او ټولو ولایتونو کې شاوخوا ۷ میلیونه ماشومانو ته د شري واکسین تطبیق شي.

د عامې روغتیا وزارت ویاند شرف زمان امر وايي، چې په دې کمپاین کې به شاوخوا ۷ میلیونه ماشومانو ته د شري واکسین تطبیق شي، چې په دې سره به ماشومان د شري له ناروغۍ وژغورل شي. د ساري ناروغیو متخصص دولت حسین افضلي وايي، چې د شري واکسین کولای شي تر ۹۰ سلنې پورې ټول ماشومان له شري ناروغۍ څخه وژغوري. د عامې روغتیا وزارت د شمېرو له مخې، د روان کال له پیل راهیسې په ټول هېواد کې ۳۸۰ ماشومان د شري ناروغۍ له امله مړه شوي دي.

## کابل: د څوارلسمې ناحیې د کوڅو کانکرېټ کولو چارې پیل شوې

شریعت: ښاري او چاپېریالي آسانتیاو ته د لاسرسي په موخه د څوارلسمې ناحیې اړوند د قلعه عبدالعلي په حاجي افضل سیمه کې د... ۷مخ



## جلوگیری از قاچاق سنگ‌های قیمتی



شریعت: از قاچاق سنگ های قیمتی به بیرون از کشور جلوگیری شد.

نیروهای سرحدی در هرات، از قاچاق سنگ‌های قیمتی به بیرون از کشور، جلوگیری کردند.

منابع از قول اردوی ۲۰۷ الفاروق با تایید این خبر می گوید که موظفین لوای سرحدی این قول اردو، یک تن را به اتهام قاچاق سنگ‌های قیمتی به بیرون از کشور بازداشت کردند.

از نزد این فرد چند پارچه سنگ‌های عتیقه به دست آمده است، شخص مذکور می‌خواست این سنگ‌ها را به ایران قاچاق کند.

## پروان او بامیانو کې پر زرګونو اړمنو کورنیو مرستې ووېشل شوې

په پروان او بامیانو کې د بېلابېلو موسسو له لورې پر ۷ زره ۳۱۰ اړمنو کورنیو د خوراکي توکو مرستې ووېشل شوې.

د پروان د کلیو بیا رغونې او پراختیا رییس ملا عبدالصمد صادق د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل چې د دغه ولایت په سیاه ګرد ولسوالۍ کې یې د خوړو نړیوال سازمان په مالي ملاتړ پر څه باندې ۵ زره ۷۰۰ اړمنو کورنیو خوراکي توکي ووېشل، چې په کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو ګرامه اوړه، ۵ لیټره غوړي، ۶ کیلو لوبیا او یوه اندازه مالګه ووېشل شوه.

**دیو له خبر له مخې**؛ د بامیانو په پنجاب، ورس، یکاولنګ نمبر ۱ او یکاولنګ نمبر ۲ ولسوالیو کې... ۷مخ



سرمقاله

## افغانان د غرب د خوشحالۍ لپاره اسلام نه شي پرېښودلی!

د هېواد په ځینو سیمو کې د اسلامی حدودو او نورو سزاګانو د تطبیق پرخبرونو دا وخت غربي مېډیا شپه ورځ مصروفه ده. د غرب سیاسي مشران هم لګیا دي په ډاګه د اسلامی سزاګانو شدیده غندنه کوي، ظلم او وحشت یې بولي، غیر انساني یې ګڼي او له افغان چارواکو غوښتنه کوي چې باید پرګردو هغو نړیوالو موافقو عمل وکړي چې پخوانیو افغان واکمنو لاسلیک کړې دي.

مطلب دا چې غربیان داسلام زیاتره قوانین د نړیوالو معاهدو خلاف بولي او په دې باور دي چې د بشري حقوقو په اړه یوازې د غرب په فرمایش ترتیب شوې تګلاره معقوله او منصفانه ده. حقیقت دادی چې که د ملګرو ملتو اداره په رښتیا نړیواله ټولنه اود ځمکې پرمخ د ټولې بشري کورنۍ او ګردو مذاهبو، کلتورونو او عقایدو استازیتوب او حقوقو خوندیتوب په پار جوړه شوې او منځ ته راغلې وي، نو بیا خو لازمه ده چې لږ تر لږ د نړۍ د دویم لوی دین اسلام او موجوده (۵۷) مسلمانو هېوادونو د انګېرنو، ارزښتونو او رسومو خیال یې هم ساتلی او په تمامه معنایې د اسلامی احکامو او قوانیو درناوی کړی وی خو داسې ښکاري چې نه دیارو نړیوالو لوایحو او قوانینو د جوړېدو پرمهال دغه ټکي مراعات شوي او نه یې اوسني ځواکمن او زورواکي مشران څه احترام لري. البته له دې واقعیته هیڅوک هم انکار نه شي کولی چې د نړۍ په همدغه بدماشي کې له اسلامی ارزښتونو پرته د نورو ملتونو هرډول وحشت، جهالت او غیر انساني، غیر فطري او نامعقول رسمونه او رواجونه د کلتور په نامه کاملاً د احترام وړ اوله نیوکو خلاص دي. خو یوازې همدا اسلام دی چې ان د السلام علیکم غوندې له احترام، دوستۍ او لورینې ډک الفاظ یې هم د دوی د زغملو نه دي. بنا پردې مونږ افغانان هم یوځل بیا ټولې نړۍ ته په ډاګه اعلانوو چې هیڅکله او په هیڅ صورت به د اسلام د دغسې د ښمنانو د خوشالولو لپاره له خپلو سپېڅلو عقایدو او الهی مبارکو احکامو تېرنه شو. مونږ الهي سپېڅلو احکامو ته د وحشت، جهالت او غیر انساني کړنو نسبت کولو له قادر خدای سره دښمني ګڼواو د خدای له دښمنانو سره د اخلاقو د خپل دین له مخې ارزښتونو او عقایدو پر موضوعاتو هیڅکله موافقې ته نه شو رسېدلی ځکه زمونږ لپاره د خپل دین له مخې داسې نړیوالو سره یوازې د سوداګرۍ او نورو اقتصادی ملګرتیاؤ اجازه شتون لري تردې چې د نړۍ د هر زورور دغه ډول څرګندوني د نورو ملتونو په کورنیو ځانې معاملو کې ډاګیز مداخلت ګڼو او هر ملت ته داحق ورکوو چې د خپلو ارزښتونونه په کلکه دفاع وکړي. نړۍ وال باید له دې واقعیته منکر نه شي چې د نورو قومونو او ملتونو په مذاهبو او رسومو همدغه ... ۲مخ

## د زغم او بې پرې سیاست اړتیا!

۳مخ

## له اسلامي نظام څخه بغاوت!

۶ مخ

## یک شفاخانه به هزینۀ ۶۹ میلیون افغانی در سمنگان اعمار گردید

شریعت: کار اعمار تعمیر یک شفاخانه ۵۰ بستر در ولسوالی خلم سمنگان تکمیل و دیروز افتتاح گردید. در مراسم افتتاح این شفاخانه، مولوی محمد اسحاق صاحب زاده معین مالی و اداری وزارت صحت عامه گفت: با اعمار این شفاخانه سهولت‌ها در ... ص۷





شرکت برشنا:

## عارضه تخنیکی پایه‌های برق در مسیر بغلان و ننگرهار رفع گردید

شریعت: شرکت برشنا به منظور جلوگیری از ضایعات برق در کشور، برنامه ترمیم و رفع عارضه پایه‌های برق در سطح کشور را روی دست گرفته است.

در تداوم این برنامه، تیم‌های تخنیکی شرکت برشنا ... ص۷



# افغانستان د فوټبال په نړیوال جام کې!

زخمي افغان

قطـــر هیواد کې د فوټبال د نړیوال جام لوبې رواني دي. دا رویداد چې څلورو کلونو کې یو ځل پېښېږي، دا ځل یې په رسنیو کې دومره زور اخیستی چې حتی د یوکراین موضوع یې تر اغیز لاندې راوستې. رســـنۍ درګرده د فوټبال د لوبو په اړه تازه خبرونه او تبصرې نشروي.
د فوټبال نړیوال جام کې د نړۍ د سلګونو هیوادونو له جملې د محدودو هیوادونو ټیمونه ګډون لري. هغه هیوادونه چې د فوټبال نړیوالې ســیالۍ ته وتلي، تر نورو یې یو څه لوړه وایي. هغوی ته ځان په دې ممتاز ښــکاري چې د فوټبال د نړیوال جام په ډګرونو کې یې بیرغ رپېږي، نوم یې اخیســتل کېږي، ملي سرود یې غږېږي او په دې ډول د نړۍ د برترو هیوادونو په لست کې د ځان لیدلو سره ورته د فخر احساس کېږي.
افغانســـتان هم یو له هغو هیوادونو دی چې د قطر د فوټبال ټورنامنټ کې یې نوم یادېږي. ښـــایي تاسو به حیران شوي یاست چې دا څه اورو!؟ افغانستان خو تر اوسه حتی اسیایي جام کې د برخې اخیســتلو جوګه شــوی نه دی، نو نړیوال جام ته بیا څرنګه ورسید؟ مه حیرانیږئ، خبره دا ده چې افغانستان که څه هم د قطر نړیوال جام کې یې د فوټبال لوبډله حضور نه لري، اما نوم یې اخیستل کېږي.
دا څه موده کېږي، په ګاونډي هیواد ایران کې د ښـــځو د حقوقو فعالانو مظاهرې رواني دي. دغه مظاهرې که څه هم لویې نه دي، خو دا چې د ښځو لپاره د غربي آزادیو په موخه پیل شوې دي، غربي رسنۍ ورته خورا پراخ انعکاس ورکوي. غربي رسنیو داسې کمپاین هم پیل کړی و، چې د ایران لوبډله په نړیوال جام کې له لوبېدو محرومه کړي. دغه راز یې لوبغاړو ته تلقین ورکاوه چې د ایران د حکومت پر ضد موقف ونیسي.
خو د غربي رســـنیو د کمپاین برعکـــس د ایران لوبډله وتوانیده چــې د ولز لوبډلې په وړانـــدې ( دوه پر صفر) بریا خپلولو ســـره په نړیوال جام کې د خپل تاریخ تر ټولو ښــه ریـــکارډ ثبت کړي. د ایران او ولز له لوبې وروســـته چې د غربي رســـنیو د خبریالانو په امیدونو ســـرې اوبې تویې شوې وې او نور یې د نشر لپاره کوم څه نه درلودل، نو د لوبې اړوند خبري کانفرانس کې یې د ایران د ټیم له روزونکي څخه د ورزشي پوښتنو پر ځای سیاسي پوښتنې پیل کړې.
غربي خبریالانو د ایران د ټیم روزونکي کارلوس کي روش ته وویل چې دا ســـمه ده چې تاســـو لوبه وګټله، مګر په ایران کې ډېرې سختې مظاهرې رواني دي، حکومت له ډېرو مشـــکلاتو ســـره مخامخ دی، د دې مظاهرو په اړه تاســـو څه ویل غواړئ؟ د ایران د ټیم روزونکـــی چې د غربیانو او غربي مغرضو خبریالانـــو د ضعف رګ ورمعلوم و، ددې په ځای چې د ایران د مظاهرو په اړه څه ووایي، غربي خبریالانو ته یې وویل چې هغه تاسو په افغانستان کې څه کردار پرېښـــود، د هغه یادونه ولې نه کوئ؟ خو ورشئ د امریکا او انګلستان د لوبډلو له روزونکو پوښتنه وکړئ چې له افغانستان څخه ولې داسې شرمینده او سرټیټي راوتښتیدئ.
د کارلوس کي روش ځواب نه و، ســـم د آهنګـــر ګوزار و چې د غربي مغرضو خبریالانو تر پښو لاندې یې ځمکه وښرخوله. د افغانستان نوم یادیدو ورباندې سرې خولې راماتې کړې او پرته له دې چې په سیاسي موضوعاتو کې نورې ګوتې ووهي، خبره یې بل چینل ته واړوله.
دې جریان یو ځل بیا ثابته کړه، چې په افغانســـتان کې شکســـت د غربي استکبار لپاره د پوزې پیزوان دی، چې چیرته افغانســـتان یادېږي، ورســـره د غربي استکبار د عبرتناک شکســـت او شرمیدلې تېښـــتې یاد هم راژوندی کېږي. که غواړئ له غربي سیاستوالو او خبریالانو خبره ورکه کړئ، یوازې له افغانستان څخه تیښته وریادوئ او بس.




## افغانان د غرب د خوشالۍ لپاره ...

کې ګوتې وهل او خپل مخصوص ارزښـــتونه او فرمایشـــونه ورباندې تپل پرته له شکه د نړۍ امنیت له منځه وړي تاوتریخوالی رامنځ ته کوي او بشـــري ټولنه له بدمرغۍ ســـره مخ کوي.
په دې اســـاس ویلی شـــو چې که څوک ځان د دغې خاورینې کرې اســـتوګن بولي او غواړي چې ټوله انســـاني معاشره دلته د امن اوســـوکالۍ ژوند ولري نو په کار ده چې یوازې پر انساني مشـــترکاتو تمرکز وکړي او د ارزښـــتونو تنوع ومني. ځکه دانو کوم حق او معقولیت دی چې د بشري ارزښتونو هره تله او کانۍ دې یوازې لویدیځوالو سره وي؟ حال دا چې په ختیځ کې هم ډېرو قومونوته د غربیانو انګېرنې او رســـوم سراســـر حماقت جهالت او هلاکت ښکارې. لنډه داچې د هر بل ملت په څېر موږ هم په خپلواکۍ سره د خپل دین او کلتور د ساتنې څرګندونې او دفاع حق لرو او د بل هیڅا فرمایش ته به غاړه هم کښېنږدو.

# نګاهی به حکومت داری الکترونیکی

**بخش دوم / ابوالیاس جهادوال**

در شـــماره قبلی در رابطه بـــه نوعیت، تاریخچه، تعاریـــف، خدمات، مزایا و مـــدل‌های حکومت داری الکترونیکی معلومات ارائه شد. بناءً در این بخش تلاش شـــده تا به شرایط تحقق و نقش این شیوه حکومت داری در تأمین شفافیت معلومات ارائه شود :

**شرایط تحقق**

حکومـــت داری الکترونیکـــی، نیـــاز بـــه مقدمه عام جامعه معلوماتی و بســـترهای نرم و ســـخت ( ســـافت و هارد ) خاص دارد. از قوانین حقوقی و مسائل خاص مربوط به اسناد دیجیتل و امضای الکترونیـــک گرفته تا آموزش‌هـــای مهارت های معلوماتـــی و بالاخره ایجاد شـــبکه های ارتباطی، بانک ها و پایـــگاه های معلوماتـــی، همه گی از شـــرایط تحقق نظام الکترونیک شمرده می شود. در این زمینه تحقیقی از ســـوی گروه اســـتراتژی بین المللی شـــورای پاســـیفیک صورت گرفته و نتایج آن توســـط پنج شـــــرکت بزرگ طراحی استراتژی های موفقیت آمیز پیاده سازی حکومت الکترونیک ارائه شده است، که بر اساس هر کشور باید به‌منظور تحقـــق حکومت الکترونیکی به ۱۰ سؤال زیر پاسخ دهد:

۱ – چرا به دنبال الکترونیک کردن نظام هستیم؟
۲ – آیـــا ما چشـــم انداز روشـــن و اولویت های مشخصی برای حکومت الکترونیکی داریم؟
۳ – ما برای چه نوع ازمدل های نظام الکترونیکی آماده‌گی داریم؟
٤ – آیا اراده و تعهد سیاســـی لازم برای پیش برد تلاش هـــای مربوط به نظـــام الکترونیکی وجود دارد؟
٥ – آیا بهترین پروژه های پیاده ســـازی حکومت الکترونیکی را انتخاب کرده ایم؟
٦ – چگونه باید پروژه های حکومت الکترونیکی را طراحی و عملی کنیم؟
۷ – چگونه بر مقـــــاومت درون حکومتی برای پیاده سازی نظام الکترونیکی غلبه کنیم؟
۸ – چگونه پیشرفت پروژه های پیاده سازی نظام الکترونیکی را اندازه گیری کنیم؟
۹ – نحوه ارتباط بخش حکومتی و خصوصی در پیاده سازی نظام الکترونیکی چگونه است؟
۱۰ – حکومـــت الکترونیکی از چـــه راه هایی و چگونه می تواند مشـــارکت شهروندان را در امور عامه بیشتر و بیشتر کند؟

درباره نحوه گسترش حکومت داری الکترونیکی در کشـــورهای مختلف جهان تحقیقاتی به عمل آمده است که منتج به موارد ذیل شده است:

۱ – هـــر کدام از منابع علمی و تحقیقی، مدل و یا روش خاص خود را برای تشـــریح مراحل مورد نیاز، جهت پیاده سازی نظام الکترونیکی ذکر کرده اند؛
۲ – پیاده سازی نظام الکترونیکی به مثابه انتقال از یک نوع سیســـتم حکومتی به نوع دیگری از اداره امـــور اســـت، بنابراین، روش های پیاده سازی حکومت داری الکترونیک ماهیتی تکاملی دارند، و بیشتر شبیه به ساخت یا ایجاد یک سیستم جدید می باشد؛
۳ – به نظر می رســـد که پروســـه ایجاد و توسعه نظام الکتـــرونیکی یک پروسه پیوسته است و به طور معمول در ٤ و یا ٥ گام پیموده می شود.

**شفافیت**

شـــفافیت در عصر حاضر که گرایش به ســـمت جهانی شـــدن بیشـــتر شـــده، از اهمیت خاصی برخوردار بوده، و هموار به عنوان یکی از اساسی ترین و مهم ترین ارکان مبارزه با فســـاد اداری در حکومت داری خوب اســـت. همچنـــان، آگاهی هرچه بیشـــتر نهاد های غیـــر حکومتی و مردم از تصمیم گیری ها، سیاست گذاری ها و روش های اجرای آنها توسط حکومت کننده‌گان و مسوولان در عرصه هـــای گوناگون حکومـــت‌داری مورد توجه اندیشـــمندان و صاحب نظران واقع گردیده است.
شـــفافیت به معنای ارائه حـــق معلومات مردم به مردم با ویژه‌گی های ذیل است:

– در زمان مناسب؛
– در قالب مناسب؛
– با کیفیت مناسب؛
– در محل مناسب؛ و
– به مخاطب مورد نظر.

هر گونه اصلاح و بهبود نظام، بدون فهم شفافیت، همانند قدم زدن در خانه‌ی تاریک و البته بی نظم و آشـــفته ای است، که بدون نور، هر قدمی (حتی با نیت اصلاح) می تواند بســـیار خطرناک باشد. لذا شفافیت مانند نوری است که مسائل را روشن می‌کنـــد، ابهامات را از بین می‌بـــرد و پس از آن نســـبت به مســـائل فکر و برای آنها تدابیر گرفته شود.
در واقـــع هدف از درخواســـت شـــفافیت اجازه دادن به شـــهروندان، بازار ها یا نظام‌ها می‌باشد تا دیگران را در قبال سیاست‌ها و عملکرد های خود پاسخگو نگهدارند. بنابراین شفافیت را می توان به منزله معلوماتی دانست، که از سوی نهاد ها منتشر می‌شوند و مربوط به ارزیابی این نهادها است.
در دهه های اخیر، که با رشد بی نظیر تیکنالوژی معلوماتی به همراه بوده اســـت، بشـــر با استفاده از این نوع تیکنالوژی بـــه دنبال ایجاد فضایی در حاکمیت ها و نظام ها شـــد، کـــه در آن با تأمین شفافیت جلو فساد اداری و بروکراسی گرفته شود و در این راســـتا تلاش‌های برای تأمین حکومت داری الکترونیکی صورت گرفت که در نتیجه این پدیده جهان کنونی را با تغییرات سریع و غیر قابل پیش بینی روبه رو کرده است.
معنی شـــفافیت در طول ســـال ها (به خصوص در دهه گذشـــته) تغییـــرات جدی یافته اســـت. این تغییرات عمدتاً ناشـــی از تحـــولات مهم در عرصه‌های تیکنالوژی بوده کـــه با ادامه آن معنی شفافیت نیز تکامل می‌یابد.
شفافیت دارای ســـه عنصر مهم است: ۱) آشکار بـــودن، ۲)، حســـاب‌دهی ۳)، و همگانی بودن یا مشارکت. هنگامی که قسمتی از این معادله مفقود می‌گردد سایر قسمت‌ها نیز ضعیف عمل می‌کنند. حکومت ها هرقدر از ابزارها و امکانات تیکنالوژی معلوماتـــی در چارچـــوب اســـتقرار حکومـــت الکترونیکی بیشـــتر بهره گیرند، میزان شـــفافیت اداری افزایـــش می‌یابد، و ایـــن موضوع منجر به کاهش فساد می‌شود. هم چنان این‌گونه حکومت ها با استفاده از قابلیت های تیکنالوژی معلوماتی مداخلات غیرضروری کارمندان را کاهش داده و با ایجاد معلومات شـــفاف درباره خط مشی خود و پروســـه ارائه خدمات به مردم، توانسته است از رفتارهای فساد برانگیز کارکنان جلوگیری کند.
نتایج مطالعات در این زمینه نشـــان می‌دهد کشور هایی که دارای شـــاخص فساد پائین‌تر و شفافیت بودجه بالاتر هســـتند، وضعیت مناســـب تری در شـــاخص حکومت الکترونیکی را دارا می باشند. میزان اثرگذاری برای کشورهای درحال توسعه به مراتب بیشتر از کشورهای توسعه یافته است.
شـــفافیت به جای رویکـــرد اندازه‌گیری مجازات مجرمین بعد از وقوع جرم، رویکرد پیشـــگری از فساد و ناکارآمدی را به عنوان رویکرد اصلی خود در نظر می‌گیرد و تلاش دارد از ایجاد بســـترهای شکل گیری فساد جلوگیری کند.
افزایـــش مشـــارکت و نظارت مردمی، تســـهیل همـــکاری های بین ســـازمانی در دســـتگاه های اجرایـــی، افزایـــش مســـوولیت پذیـــری و الزام پاسخگویی مسوولین، پیشگیری و مبارزه با ایجاد فساد و همچنین ارتقاء اعتماد و سرمایه اجتماعی حاکمیت از نتایج ایجاد شفافیت و از شاخه های مهم حکومت های الکترونیکی محسوب می‌شود.

# د بګرام پر دېوال: اخ د اختر ورځ، هغه هم دلته!

دادمحمد ناوک

د نړۍ په ســـطحه خوله‌ور، دیني عالم او مجاهد ځوان د ملاقات تر خونې را راســـبېږي، په دې خاطر چې ادې یې زولانه لاسونه او پښـــې ونه ویني، سمدستې مخامخ پر څوکۍ کښېني...
ادې غبرګ لاسونه د غېږې په ډول خلاصوي، چې زولانه زوی په غېږې کې ونیسي، خو مخامخ پر شیشه لګېږي...
سپین ږیرې سترې ستومانه، تر ډېرو تلاشیو، ټاپو او ګوتو ایښودو وروسته دې خونې ته رارسېدلې، دوه کاله وروسته خپـــل زوی ویني، زړه یې دې غېـــږه کې یې کلک کړي، پرې ورمنده کوي، خو مخامخ پر شیشـــه لګېږي او ځای پر ځای کښېني...
کوچنی ماشـــوم د ادې تر مخ ابا د زندان له جامو نیسي، چې مه ځه، زه هم درســـره ځم، خـــو ځوان ابا امریکایي تر مټه نیسي او په زور یې د ملاقات له خونې کشوي...
دا ټولې صحنې یوازې لوســـتلو او اورېدلو کې نه خلاصه کېږي، دا صحنې که عملاً تصور شـــي، ســـرې یې درک کولی شي چې د درد اوج پکې نغښتی!
خو؛ تر دې زوروړې صحنې لا هم خاموشـــې پاتې دي، لا هم د بګرام ټولو پنجرو، د څهل ټولو خونو او د نود ټولو تعذیبخانو خولې نه دي چوله کړې!
پـــه دې برخـــه کـــې لومـــړی ګام د افغان فلم ریاســـت واخیست، دوی د بګرام پر وحشتونو په زړه پورې مستند برابر کړ، هغه تنګې پنجرې چې د بشر د خواخوږۍ دعوه دارانو پخپله خاوره کې د مسلمانانو د تعذیب لپاره برابرې کړې وې پکې را اخیستل شوې او هغه مخور پکې غږول شي چې ســـړی یې مازې توهین او په حق کې ګستاخي کبیره ګناه بولي، خو ترې اورو یې چې یوازې د مسلمانۍ او د ازادۍ په جرم څومره تعذیب شـــوي، بربنډ شـــوي، وهل شـــوي او کلونه کلونه یې پخپله خاوره کې د پردیو د زجر تر کرېږو لاندې تېر کړي.
مستند کې د افغاانســـتان اسلامي امارت د ویاند مولوي صاحب ذبیح الله مجاهد په ګډون څو تنه زندانیان غږول شـــوي دي، هغوی د زنداني کېدو، په زندان کې د چلند او تر بېرته خلاصېدو پـــورې خبرې کړې دي، په تصویر اخیســـتنه کې خورا خواري شوي خو په سکریپټ کې لا هم خواري پکار وه.
مهمه دا وه چې دې مستند کې هر مرکه کېدونکی شخص لنډ معرفي شـــوی وای، په زندان کـــې تېره کړې موده یې معلومه وای او اوسنی موقف یې ښکاره شوی وای، د دې تر څنګ یې د دوی په تړاو د دوی ځینې ملګري را غږولي وای، چـــې حد اقل د دې ملګرو د زنداني کېدو په وخت کې څه تصور درلود، د هغوی د کورنیو غږي غږول شوي وای چې څه فکر یې کاوه!
د دې تـــر څنګ د نړیشـــن ټـــون په هغـــه ډول نه و چې بایـــد وای؛ کله کله باید روایـــت کوونکی پخپله پکې را ښکاره شـــوی وای، هلته د زندانیانو پاتې شوې څپلکې، یادګارونه، لباس هر څه د تمرکز په ډول ښـــودل شـــوي وای!
لیدونکی دا انګېري چې مستند کې تمرکز د زنداني شویو پر مرکه شوی دی او پخپله د زندان د وضعیت او تشریح په اړه مفصل معلومات نه دي شـــریک شوي، هلته لیکل شویو یادګارونو، بې ستنو ساعت، پاشلیو لباسونو او ماتو زولنـــو یو عالم خبرې لرلې، خـــو دا په هغه صورت کې ممکنې وې چې د سکریپټ پر لیکلو خواري شوې وای، د ویونکي احساسات باید په مستند کې دخیل وای، خو متاسفانه د دې مستند له پیله تر پایه مسلسل یو ډول ټون کاربېدلـــی، حتی د فتحې او ازادۍ په راتګ هم په غږ کې بدلون نه ښکاري!
د افغان فلم له لوري دا ډول هڅه له ځینو نیمګړتیاوو سره ســـره د خپل ډول لومړنۍ او بریالـــۍ هڅه ده، پر متو یې برکت، کاش تر دې هم تفصیلي معلومات مســـتند شي، چې هغوی ته چې لا یې هم فکر د تلویزون پر ســـکرین او د راډیو پر ســـپیکر پورې نښـــتی ور وفهمول شي، چې اشغال دلته څومره لوی مصیبت و، پر وړاندې یې مبارزه څومره مهمه وه او له ازادۍ ســـره څومـــره لویه بلا د دې ملت له سره لرې شوه؟

# د زغم او بې پرې سياست اړتيا!

س. سعيد

دلته څه د پاسه څلویښت کاله جګړه شوې، چې له همدې امله د نړۍ له کاروانه خورا وروسته پاتې او په هره برخه کې د سیمې او ګاونډ له هېوادونو ډېر کمزوري یو. اوس چې الحمدلله؛ د جګړو لمن ټوله شوه او الله تعالی افغانانو ته یو بل فرصت په لاس ورکړی، نو باید چې په هره برخه کې له خورا ژور فکر، دقت او بصیرت څخه کار واخیستل شي. په بهرني سیاست کې باید افغانستان همداسې بې پرې او خپلواک پاتې شي. داسې چې د هیڅ هېواد پر سر، د نورو دښمني پر غاړه وانه خلو. تېر رژیم خو د ټولې نړۍ شریک ؤ او له همدې امله یې بې پرې سیاست درلود. البته د روسیې او چین په نسبت یې امریکا ته او د پاکستان په نسبت یې هند ته تمایل درلود. اوس چې الحمدلله؛ خپلواکي لرو، نو باید چې ټولې نړۍ سره مستقلې، بې پرې او پیاوړې اړیکې ولرو، او موجوده بدګوماني او بې اعتمادي په بشپړه توګه له منځه یوسو. دا چاره ښه روانه ده، البته لا ډېر کار ته اړتیا لري.
دغه راز؛ د ایران او عربي نړۍ تر منځ هم باید تعادل وساتل شي. یو طرف ته له عربي نړۍ سره نه شلېدونکې اړیکې لرو او که په ښه توګه ورسره وپالو، نو ډېر څه ور څخه تر لاسه کولی شو. خو بل طرف ته مو ایران هم دایمي ګاونډی دی. ګاونډیانو سره په هیڅ صورت لانجه نه ده پکار، ځکه که راته په بده شي، ډېر ضرر رارسولی شي او که ښې اړیکې ولرو، نو یو له بله ښه فایده تر لاسه کولی شو.
دا چې بهرنی سیاست مو په بې پرې توګه وساتلی شو او په عین حال کې له ټولو هېوادونو سره ښې اړیکې هم ولرو، نو باید چې ټولو هېوادونو سره د مختلفو مشترکاتو پر اساس وپالو. یعنې ځینو سره باید د اسلامي ورورګلوي، ځینو سره د ګاونډیتوب او ګډ امنیت او ځینو سره د اقتصادي ګټو پر اساس وپالل شي. البته؛ ځینې وخت باید حقیقي شخړو کې له ښکېلېدو پرته، د مخالفو هېوادونو له سیالي څخه هم سالمه استفاده وشي، چې دا فرصت اوس هم موجود دی.
امیر حبیب الله خان او ظاهر شاه د همدې بې پرې بهرني سیاست په برکت، د لومړۍ او دوهمې نړیوالې جګړې پر مهال افغانستان له هر ډول زیانونو خوندي وساته. هماغه صحیح نسخه ده، اوسني حالت کې خو باید حتماً پر هماغه لاره ولاړ شو. ځکه چې اوس موږ تازه له اوږدو جګړو راوتلي یو او ټول بدن مو زخمي، زخمي دی.
همدا راز؛ ګاونډیانو سره هم باید له شخړو، لانجو او تورو، سپینو په کلکه ځان وساتل شي. د اسلامي امارت لوړپوړي مسؤلین باید دغه موضوع تر جدي څار لاندې ونیسي او پرې نه ږدي، چې په شعوري، یا غیر شعوري توګه ګاونډیانو سره ستونزې رامنځ ته شي. باید هڅه وشي، چې ټولې ستونزې د خبرو اترو او تفاهم له لارې حل شي. یعنې د سرحداتو ساتنه کې باید له مجاهدینو څخه سیاسیون مخکې وي، که د ډیپلوماسي له لارې خبره حل نه شوه، بیا دې له هغه وروسته مجاهدین مداخله وکړي. دا په هغه صورت کې چې د بهرنیانو له خوا تعرض وشي، موږ خو باید هیڅکله تعرض ونه کړو.
زموږ یوه لویه ستونزه له پاکستان سره ده، چې اوږده پوله ورسره لرو او هغوی زموږ پراخه سیمه غصب کړې. مګر دا غصب اوسنی نه دی، ډېر وختونه پرې تېر شوي او تر اوسه زموږ هیڅ حکومت نه دی توانېدلی چې بیرته خپله سیمه ترې ونیسي. نو راځئ، دومره اوږده موده چې پاتې وه، لس کاله دې نوره هم ور پاتې وي. في الحال باید هیڅ غرض پرې ونه کړو، ځکه موږ تازه له جګړو راوتلي یو او نه ښايي چې بیا په جګړو کې ښکېل شو. اوس زموږ د پرمختګ، تقویت او چمتووالي وخت دی. خو که خدای مه کړه؛ بیا په جګړه کې ښکېل شو، له پرمختګ څخه پاتې کېږو. نو د دې پر ځای چې اوس یو څو دږه پرې وکړو، ښه به دا وي چې ځان ورسوو او بیا په داسې حالت کې دا قضیه را برسېره کړو، چې په هر ډګر کې موږ د پاکستان پر نسبت قوي یو. عقل او تاریخ همدا تقاضا کوي. په مکي دور کې کفارو پر مسلمانانو خورا زیات ظلمونه کول، خو مقابل کې یې رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته یوازې د صبر، زغم او حوصلې توصیه کوله. دیارلس کاله مسلمانان تر سختو عذابونو لاندې وو، خو تر پایه الله تعالی د جهاد او مبارزې اجازه ورنه کړه. تر دې چې مسلمانان زیات شول، مدینې ته یې هجرت وکړ او هلته یې قوت ومونده، بیا الله تعالی د جهاد حکم وکړ، هماغه ؤ چې مسلمانانو مقابله پیل او ورو، ورو له دفاعي حالت څخه تعارضي حالت ته واوښتل. دغه کیسه کې موږ ته ډېر لوی درس دی، باید موږ همدغه لاره غوره کړو، تدریجي پرمختګ پکار دی. باید تر یوې مودې بالکل له جنګ جګړو ځان وساتو او انتهايي هڅه وکړو، چې هر مشکل د خبرو له لارې حل کړو او که خبرو اترو نتیجه ورنه کړه فقط دفاعي حالت غوره کړو. تر دې چې الله تعالی مو هغه حد ته ورسوي، چې د مقابلې جوګه شو. ان شاء الله؛ بیا نو هغه سات، هغه مسلات...!

# د حدودو تطبيق د بشر د حقوقو نقض، که ساتل؟!

م. حمادافغان شیرزاد

اسلام او زموږ متین دین د ټولنې، چاپیریال او ځمکې څخه د شر، فحشاء، بې دینۍ او فساد د له منځه وړلو لپاره او د یو نظام د نفاذ لپاره حدود او قصاص فرض کړي، تر څو چې په ټولنه کې د الله د دین دغه احکام عملي کیږي، نو ټولنه به له ټولو فساداتو او ناوړه اخلاقو پاکه وي، چې نتیجه کې به یې زموږ عزت، مال، سر او نفسونه خوندي او ښه ژوند به تیروو.
زموږ دین او شریعت د هر چا لپاره داسې حدود ټاکلي چې هغه عین حق او د عقل په تقاضاء کې هم د ټولنې د اصلاح لپاره اړین دي، الله تعالی دین د ساتنې لپاره د ارتداد حد، د نفس د ساتنې لپاره قصاص، د عقل د ساتنې لپاره د شرابو څښلو حد، د نسل ساتنې لپاره د زنا حد او د مال د ساتنې لپاره د غلا او قطاع الطریقي حدود ټاکلي دي، چې ټول بیا خپل شرایط، ارکان او هر حد خپله اندازه لري، چې هیڅوک پکې د تغیر او تبدیل حق نه لري.
دا چې په افغانستان کې د یو اسلامي ریاست او دولت نفاذ شوی او کوښښ کوي چې د یو اسلامي حکومت پر اساس د الله دین ته ریښتینی نفاذ ورکړي؛ حدود نافذ شي، د الله تعالی ځمکه له شر، فساد او بداخلاقۍ څخه نجات ومومي، نو په همدې اساس د حکومت مشرتابه یې د حدودو د اجراء حکم ورکړ.
دا چې حدود د الله تعالی یو فرضي حکم دی، هیڅوک یې نشي معطل کولای او نه یې ختمولای او تغیر کولای شي او پخپله هغه عظیم رب یې قران کې حکمت بیان کړی چې د حدودو په اجراء او تنفیذ کې د ژوند احیاء «یعنې د بشر د حقوقو بشپړه احیاء او ساتنه» ده.
دا چې له کلونو راهیسې پر اسلامي نړۍ کفر او باطل حاکم دی، د مسلمانانو افکار یې تر دې حده د خپل قران او تاریخ نه محوه کړي، چې نن ورځ د کفر پر ځای پخپله تش په نوم مسلمانان د حدودو په اجراء تنقید او د بشر د حقوقو نقض یې بولي.
د یو اسلامي حکومت دنده او وظیفه همدا ده چې د الله تعالی مخلوق سمې لارې ته رهي کړي، له ټولنې فسادات ورک، سکون او امن ورته نافد کړي، نن چې ټولو حکومتونو ته کومې ستونزې ایجاد شوي، اساسي لامل یې د قران نه لرې والی، د حدودالله تعطیل او د پردیو د قانون نفاذ دی، موږ ته تر ټولو بهتره او غوره اساس او قانون قران او دین دی.
مسلمانانو ورونو! دین او شریعت موږ ته میراثي نه بلکې د خدای یو داسې قانون دی، چې په عملي کولو یې هم موږ ته ګټه او هم ټولنې ته ګټه ده، نن که غربي ملل متحد د حدودو په اجراء د بشر د حقوقو د نقض چیغې وهي، د هغوی مفاد همدا دی چې مسلمانان سره وپاشي او له ریښتیني دین څخه لرې پر باطلو لارو لاړ شي، هغوی چې نن د بشر د حقوقو د نقض چیغې وهي تر پرونه چیرته وه، چې د عراق، لیبیا، فلسطین، شام او برما په شمول افغانستان کې لکونه خلک د دوی په بې دریغه بمباریو، چاپو، وحشتونو او جګړو کې تر تیغ تیر شول، هغه د بشر نقض نه دی، مسلمانه وروره! پام چې د حدودو د اجراء او تنفیذ په اړه بد ونه وایې، دا د بشر د حقوقو په ریښتیني توګه ساتل او حفاظت کولو لاره ده.
وما علینا الاالبلاغ المبین.

# د سرحداتو ساتنه؛ ستر فضيلت او درووند مسؤليت!

حسان مجاهد

افغانان په دې بختور دي، چې الله تعالی په هره زمانه کې دکفارو په خلاف په مختلفو اشکالو دمبارزې ډګر ته را ایستلي دي او هر طاغوتي لښکر رب ددوي په مټ له شکست سره مخ کړی دی. تر اوسه ددې لپاره چې د یرغل مخه ټوله او اسلامي نظام حاکم شي؛ په سنګرونو کې اوسیدو، اوس بیا له پردیو یرغلونو څخه داسلامي خاورې، پولو او سرحداتو ساتنه کوي، چې دې عمل ته «رباط» ویل کېږي او درباط په اسلام کې ځانګړې فضیلت بیان شوی ده: رسول الله ﷺ وایي: د الله تعالی په لاره کې د رباط یوه ورځ له دنیا او هغه څه چې په دنیا کې دي غوره ده. ( البخاري ۲۶۷۸)
او دصحیح مسلم په روایت کې داسې راغلي دي: « دیوې ورځې او یوې شپې رباط دیوې میاشتې تر روژې او قیام غوره دی، که مجاهد د رباط په حال کې مړشي؛ دعمل ثواب یې بیا هم جاري وي او که ژوندی وي رزق به یې جاري وي او له «فتان» یعني دقبر عذاب یا له فتنو څخه به په امن کې وي» امام نووي رح وایي: له مرګه وروسته بیا هم دعمل دوام یوازې دمرابط مجاهد ځانګړتیا ده، چې بل هیڅ څوک ورسره په دې کې شریک نه دی. له صحیح مسلم پرته په نورو کتابونو کې په واضحه توګه دا لیکل شوي دي: دهر انسان په عمل دده تر مرګ وروسته داختتام(پای) مهر وهل کیږي، مګر یوازې مرابط مجاهد دی چې عمل به یې وروسته له مرګه هم جاري وي.( په صحیح مسلم دامام نووي رح حاشیه)
ابو عزام عراقي په یو وصیت کې مجاهدینو ته دا توري لیکلي وو: « دالله تعالی په لار کې ( رباط) دکعبې او بیت المقدس تر مجاورت(ګاونډیتوب) غوره دی، ابوهریره (رضي الله تعالي عنه) وایي: دالله تعالی په لار کې د رباط یوه شپه ماته دحجر اسود په څنګ کې دشپې تر صلاة تهجد ډیره غوره ده. ګورئ! ده (رض) په بهتره مکان تر بهتره عبادت د رباط یو شپه ښه وبلله.»
اوسمهال چې کوم چارواکي دسرحداتو او پولو ساتنه کوي؛ ددې ترڅنګ چې له پورتني فضیلت څخه برخمن دي، یو درووند مسؤلیت هم ور له غاړې دی؛ ځکه دوي دهیواد هغه مهمې نقطې کنترولوي چې لومړی له یرغلونو سره هغه مخ کیږي، دغه کسان خپل کار ته ځکه باید د کار په سترګه وګوري؛ چې دوي په سرحداتو له بې ساري اسلامي نظام او غیور مسلمان ملت څخه دفاع کوي، دوي دنورو فوځي ځواکونو په شان نه دي چې له خپلو طاغوتي نظامونو څخه ددفاع په خاطر سرحدونه کنترولوي، دوي باید په دې لاره کې پوره استقامت او نظارت ته توجه وکړي او خپل کار باید دتېر عملي جهاد په څېر دځان لپاره مسؤلیت او ځانګړې فریضه وګڼي!ځکه ددوي په کمه اندازه غفلت سره کله هیواد له لوی خطر سره مخامخ شي او ددوي د پوره بیدارۍ او ښه استقامت په صورت کې به هم نظام ټینګښت مومي او هم به هیواد له خطره په امن کې وي.
( ان شاء الله تعالی)

# د عثماني خلافت پای!

محمد جاوېد حنیف

۲۸ د رجب د ۱۳۴۲ هــ. ق شپه هغه توره شپه وه چې له هغې وروسته اسلامي امت د سحر رڼا په سترګو نه ده لیدلې.
مصطفی کمال ایتاترک د استانبول والي ته امر وکړ چې د سهار د لمر د راختلو وړاندې باید سلطان عبدالحمید ترکیه پریښې وي ، د مصطفی کمال د امر سره سم فوځ او پولیس په حرکت کې راغلل او خلیفه یې مجبوره کړ تر څو ترکیه پریږدي .
د ( ۲۸ ) (۱۳۴۲)هــ. ق کوم چې د مارچ د دریمې نیټې ۱۹۲۴ سره سمون خوري په سهار کې دا اعلان وشو چې : د ستر پارلمان د پریکړې له مخې له نن څخه وروسته خلافت لغوه کړ او هم یې د مذهب له نړۍ څخه د جدایې اعلان وکړ چې په دې سره د هغه وخت د برطانیې خارجه وزیر لارډ کرزن په فخر سره وویل : ترکیه مو تباه کړه او له دې څخه وروسته به مسلمانان هیڅکله خپل تللی عزت دوباره تر لاسه نه کړي ځکه چې موږ د دوی روحاني قوت خلافت او اسلام دواړه له ترکیې څخه ختم کړل او پر ځای مو جمهوریت راوست .
د خلافت د ختمیدو څخه وروسته د اسلامي امت حالت داسې شو لکه د شیدو د کوچني ماشوم له سر څخه چې د مور سیوری ولاړ شي او په دې خود غرضه نړۍ کې د خپلې بقا د جنګ لپاره یوازې پاتې شي ؛ د خلافت له ختمیدو سره سم د نړۍ وږي او استعمارګر کفار لکه د وږي لیوانو په څیر په اسلامي امت ور پرې وتل تر دې چې د مسلمانانو د وینو څښلو کې یې یو له بله سره په جنګ کولو کې هم دریغ ونه کړ ، اسلامي شریعت ختم کړی شو ، خلافت په وړو وړو ریاستونو وویشل شو او د هر ریاست لپاره بیل قانون ، قومیت او بیرغ منتخب شو تر څو مسلمانان داسې تقسیم شي چې دوباره د یو ځای کیدلو ګنجایش یې هم پاتې نه شي د اسلام عادلانه معیشت یې په غربي سرمایه رانه نظام سره بدل کړ او د مسلمانانو د نګرانۍ چارې د اسلامي حکومت پر ځای د سیکولر نظامونو لاسونو ته پریوت .
ماخذ: د اسلامي تاریخ زړور سپاهیان

# اسلامي امت ولې غافل دی؟!

حقمل

اسلام په نړۍ کې یواځینی دین دی چې امنیت، ټولنیز عدالت، او د بشریت حقوق پکې خوندي دي، تور په سپین او سپین په تور او همدا رنګه عرب په عجم او عجم په عرب برتری نلري بلکې د برترۍ معیاریې تقوا ګرځولې. د عربو هغه مشرکینو چې خپلې لونې به یې ژوندۍ ښخولې د اسلام په را څرګندیدو او د بشریت د ستر لارښود په بعثت سره ښځې ته په اسلامي ټولنه کې د غږیتوب حق ورکړل شو یواځې دا نه چې په ټولنه کې حق ورکړل شو بلکې ښځه د نارینه ؤ څخه زیاته د احترام وړوګرځیده ځکه چې ښځه مورده او جنت هم د مور په قدمونو کې دی، خو برعکس د غربي دیموکراسۍ ډنډورچیان او زمامداران ښځه د خپلو خواهشاتو د پوره کولو وسیله بولي، ښځه یواځې د لوڅو اشتهارونو او د انسانیت د بې لارې کولو لپاره استخداموي او اسلام یې د عزت وقار او د روند حیثیت لپاره مسلمانانو ته سپارښتنه کوي او د دغسې سر ایله دیموکراسۍ سره په مبارزه بوخت دي زه نپوهیږم اسلامي امت ولې غافل دی او نه راویښیږي، علت یې واضح دی کله چې مسلمانان پخپلو کې سره یو موټې ؤل او واحد قیادت یې درلود نو د غرناطې او قرطبیې غوندې ښارونه یې ودان کړل ۷۵۰ کاله وروسته پاریس او لندن ښارونه جوړ شول چې اوس یې هم آبادي هغې ته نه رسیږي خو کله چې شرقي او غربي ښکیلاګګرو دا نسخه د مسلمانانو په منځ کې عملي کړه چې بې اتفاقي واچوه حکومت پري کوه، مسلمانان یې پخپلو کې یو پر بل ووهل چې د څلورولسیزو په لړ کې زموږ ګاونډیانو له موږ سره څه ونکړل او څه نکوي قضاوت لوستونکو ته پریږدم او د ذکر شوې موضوع د لاشننې او سپړنې لپاره خپل بحث ته دوام ورکوم. د یوې مقایسې له مخې چې په ګرده نړۍ کې څلویښت ستر تجارتي بندرونه دي چې څوارلس یې په اسلامي هېوادونو کې دي، په نړۍ کې یوولس یورانیم لرونکي هېوادونه دي چې (۷) یې په اسلامي هېوادونپوري اړه لری او ۱۲۴۸ اتومي سیاسنپوهان مسلمانان دي، اخر کومه ټکه په مسلمانانو را پریوتې چې نشي کولی پخپلو کې سره یو موټی شي، که خپله پکې د یووالي ماده نه وي نو د شرقي او غربي اشغالګرو او په اسلامي امت د بحراني حالت څخه دې درس واخلي چې د ښکیلاګګرو په دام کې له نښتلو څخه د نجات یواځنۍ لار د مسلمانانو وحدت او یووالی دی نن موږ د نړۍ په ۵۷ اسلامي هېوادونو کې یو خپلواک هېواد نه لرو، په مستقیم او غیر مستقیم شکل د استعماري قدرتونو تر تأثیر لاندې دي که نن هغوی پر مختللې الوتکې لري نو د هغې روح چې تیل دي د مسلمانانو په لاس کې دي، راځئ نور له ځان غوښتنې تیر شو د اسلامي او مت په حال او خپله راتلونکې فکر وکړو کار وکړو او خلکو ته د کار زمینه برابره کړو، تعلیم او پوهه حاصله کړو او د حصول شرایط یې برابر کړو، چې د خپلې پوهې او علم پرمټ د نړۍ د پرمختللي کاروان سره خپل ځانونه د سیالۍ جوګه کړو لکه چې سید شمس الدین«مجروح» صیب وایي:

**زرد علم جا مې وا غونده افغانه !**
**که نه توره د دښمن ده او ستار سر دی**
**او یا دا چې**
**زه وایم ګناه تا ته ده !**
**ته وایې ګناه تا ته ده**
**ووایه منصفه چې پدې کې ګناه چاته ده**
**خو ما د خپل شعر په یو بیت کې ویلي.**
**د لاس یوه یوه ګوته ماشوم هم شي ماتولی !**
**حالات را نه قوي غوندې منګول غواړي ملګرو**
**د یوه ودان سر لوړي او غوړېدلي افغانستان په هیله.**

# د اطاعت، قرباني او بې ساري مينې ستر مثال!

**فريد احمد (مبارز)**

رسـول الله (صلـی اللـه عليـه وسـلم) چـي کلـه د احـد د غـزا وروسـته شـهيدان ښـخ کـړل، دعـا يـې ورتـه وکـړه او د مدينـې منـورې پـه طـرف روان سـو، د نارينـه وو د مينـي او قربانيـو د ليدلـو سـربيره د مسـلمانو ښـځو د مينـي او ښـه راغلاسـت سـره هـم مـخ سـو. د بني نجار قبلـې د يـوې ښـځي سـره مـخ سـو، چـي ميـړه، ورور او پـلار يـې درې سره شـهيدان سـوي وه، کلـه چـي د هغـې ښـخـې د غـم زغملـو هيلـه وسـوه، نـو ويـې ويـل: دا راتـه وواياسـت، چـي رسـول اللـه (صلـی اللـه عليـه وسـلم) څنګـه دی؟ ورتـه وويـل سـوه: د فلانـي مـوري الحمدالله لکـه تـه چـي پـرې خوښـيږې همغسـي روغ او جـوړ دی. هغې وويـل: کمـه دی راوې ښاياسـت چـي زه يـې ووينـم؟ يـو چـا اشـاره ورتـه وکـړه، هغـه دی، کلـه چـي يـې پـر رسـول اللـه (صلـی اللـه عليـه وسـلم) سـترګي ولګيـدې ويـې ويـل: تـه چـي ژونـدی يـې نـور ټـول غمونـه هيـڅ نـه دي.

د مکـې مشـرکينو چـي کلـه حضـرت خبيـب (رضـي اللـه عنـه) د دار تختـې تـه راوسـتی، نـو ابـو سـفيان ورتـه وويـل: آيـا دا خوښـوې چـي محمـد (صلـی اللـه عليـه وسـلم) دلتـه سـتا پـه بـدل کـي ووژنـو او تـه د خپلـو کوچنيانـو سـره روغ رمـټ پاتـه سـې؟ حضـرت خبيـب (رضـي اللـه عنـه) ورتـه وويـل: نـه قسـم پـه خـدای دا لا څـه زه دا هـم نـه خوښـوم، چـي زه دي کورتـه ولاړ سـم او هغـه تـه دي ستاسـي د خـوا څخـه کوچنـی تکليـف ور ورسـيږي. ابـو سـفيان ملګـرو تـه وويـل: هيڅکلـه مـي داسـي خلـک نـه دي ليدلـي چـي د يـو چـا سـره يـې داسـي محبـت وي، لکـه د محمـد (صلـی اللـه عليـه وسـلم) د ملګـرو چـي د محمـد (صلـی اللـه عليـه وسـلم) سـره دی.

ابـو سـفيان چـي کلـه مدينـې منـورې تـه د حديبـې د تـړون د نـوي کولـو لپـاره ولاړی، سـيده د خپلـې لـور ام حبيبـې کورتـه ورغلـی، کلـه چـي ابوسـفيان د رسـول اللـه (صلـی اللـه عليـه وسـلم) د ناسـتي ځـای تـه ورکښـته سـو، تـر څـو هلتـه کښـيني، لـور يـې پـه بيـړه هـوار سـوی فـرش را ټـول کـړ. ابوسـفيان لـور تـه وويـل: لـوري! دا فـرش بيـکاره دی او زمـا وړ دي ونـه ګاڼـه؟ او کـه زه دي ددې وړ ونـه بللـم چـي پـر کښـينم؟ لـور يـې جـواب ورکـړ: دا د رسـول اللـه (صلـی اللـه عليـه وسـلم) پـاک فـرش دی او تـه ناپاکـه مشـرک سـړی يـې، ابـو سـفيان ورتـه وويـل: سـوګند پـه اللـه چـي زمـا څخـه وروسـته تاسـي د شـر سـره مـخ سـوي ياسـت.

د اطاعـت او فرمانبـرداري يـو غـوره مثـال دا هـم دی، کلـه چـي درې کسـان د تبـوک د غـزا څخـه پاتـه او څـه عـذر يـې هـم نـه درلـود، نبـي کريـم (صلـی اللـه عليـه وسـلم) چـي بيرتـه د غـزا څخـه را وګرځيـدی، نـو خلـګ يـې د هغـو دريـو کسـانو سـره د خبـرو کولـو څخـه منـع کـړل، هيچـا هـم خبـري نـه ورسـره کولـې، مدينـه منـوره د هغـوی لپـاره د چوپتيـا پـه ښـار بدلـه سـوه، نـه د هغـوی سـره خبـري کوونکـی وو او نـه جـواب ورکوونکـی. ددې دريـو کسـانو څخـه يـو يـې کعـب بـن مالـک (رضـي اللـه عنـه) وو، دی وايـي: رسـول اللـه (صلـی اللـه عليـه وسـلم) زمـوږ دريـوو سـره خبـري کـول بنـد کـړل، خلګـو زمـوږ څخـه کرکـه کولـه او نظرونـه يـې بـدل سـول، مدينـه منـوره زمـوږ لپـاره ګونګـه سـوه، بلکـي نـړۍ ګونګـه راتـه ښـکاريده، تـر دې پـوري چـي پـر مـا د اللـه سـبحانه وتعالـی پراخـه مځکـه تنګـه سـوه، ګواکـي دا هغـه مځکـه نـه وه، چـي مـا پيژندلـه تـر دې پـوري چـي د خلګـو زمـا سـره مينـه بيخـي ورکـه سـوه، زمـا دواړه ملګـري پـه کـور کـي کښيناسـتل، مګـر زه د قـوم يـو تکـړه کـس وم زه بـه ګرځيـدم د مسـلمانانو سـره بـه مـي پـه لمانځـه کـي اشـتراک کاوه، بـازار تـه بـه تلـم، مګـر هيچـا خبـري نـه راسـره کولـې، تـر دې پـوري چـي يـوه ورځ د نبـي کريـم (صلـی اللـه عليـه وسـلم) مجلـس تـه راغلـم او سـلام مـي واچـوی، د ځـان سـره مـي وويـل: آيـا د نبـي کريـم (صلـی اللـه عليـه وسـلم) شـونډي بـه د سـلام پـه جـواب سـره ماتـه وښـوريږي؟ بيـا هلتـه نـږدې پـر لمانځـه ودريـدم او پـه غـلا بـه مـي د نبـي کريـم (صلـی اللـه عليـه وسـلم) طـرف تـه کتـل چـي مـا تـه ګـوري او کـه نـه؟ مګـر کلـه چـي بـه مـا ورتـه وکتـل هغـه بـه مـخ واړاوه او کلـه چـي بـه مـي د سـترګو د کونجونـو څخـه ورتـه وکتـل نـو هغـه بـه راتـه کتـل، پـه دې بـه هـم زه خوشـاله وم، چـي نبـي کريـم (صلـی اللـه عليـه وسـلم) خـو پـټ پـټ راتـه ګـوري.

دا وخـت پسـې اوږد سـو، يـوه ورځ زه د ابـو قتـادة د بـاغ پـر ديـوال وختـم، بـاغ تـه ورکښـته سـوم، ابـو قتـادة زمـا ګـران د اکا زوی او زه تـر هـر چـا پـر ګـران وم، مـا سـلام ور واچـوی، پـه خـدای چـي هغـه هـم جـواب را نـه کـړو، نـو مـا ورتـه وويـل: اې ابـو قتـادة! زه تـا تـه پـه خـدای قسـم درکـوم، څنګـه تـه پوهيـږې، چـي زه د اللـه سـبحانه وتعالـی او د هغـه د رسـول (صلـی اللـه عليـه وسـلم) سـره مينـه لـرم، هغه غلـی و، مـا تـر اوږو ونيـوی، ومـي ښـوروی بيـا مـي قسـم ورکـړ، مګـر هغـه همداسـي چـوپ وو، مـا پـر لـه پسـې ورتـه ويـل او سـوګند مـي ورکاوه، نـو هغـه دومـره وويـل: اللـه سـبحانه وتعالـی او رسـول (صلـی اللـه عليـه وسـلم) يـې ښـه پوهيـږي.

زمـا سـترګي ډکـي ډکـي سـوې، بيرتـه راوګرځيـدم، پـر ديـوال راواوښـتم او راغلـم. پـه سـبا ورځ بـازار تـه ولاړم، د مدينـې منـورې پـه بـازار کـي روان وم، د هغـو شـاميانو څخـه چـي پـه مدينـه منـوره کـي يـې غلـه خرڅولـه يـوه وويـل: کعـب بـن مالـک تـه يـوه خبـره کـوم، ددې خبـري پـه اوريـدو سـره خلګـو زمـا پـه لـور اشـاره ورتـه وکـړه، شـامي ماتـه رانـږدې سـو، د غسـان د پادشـا يـو ليـک يـې راکـړ. زه لوسـتونکی او ليکوونکـی وم مـا هغـه ولوسـت ليکلـي يـې وه: مـوږ خبـر سـوي يـو چـي ستاسـي سـردار ستاسـي سـره د خبـرو کولـو څخـه پريکـړه کـړې ده، اللـه سـبحانه وتعالـی کـه تـه د ذلـت لپـاره نـه يـې پيداکـړی، نـو مـوږ تـه راسـه، مـوږ بـه دې ډيـر خيـال سـاتو.

مـا چـي ليـک ولوسـت، نـو ومـي ويـل: دا يـوه نـوې آزموينـه ده، ولاړم ليـک مـي پـه تنـاره کـي وسـوځوی. ددې پنځوسـو (۵۰) ورځـو د جريـان څخـه چـي څلويښـت (۴۰) يـې پـوره سـوې مـوږ پـه دې ژور خپګان کـي ډوب وو، چـي نبـي کريـم (صلـی اللـه عليـه وسـلم) اسـتازی راوليـږه او راتـه يـې وويـل: رسـول اللـه (صلـی اللـه عليـه وسـلم) تاسـو تـه حکـم کـوي چـي د خپلـو ښـځو څخـه جـلا اوسـئ، مـا ورتـه وويـل: آيـا طـلاق ورکـړو کـه څنګـه؟ هغـه قاصـد وويـل: نـه! بلکـي جـلا اوسـئ، مـه ورنـږدې کيـږئ، نـو مـا خپلـې ښـځي تـه وويـل: ځـه د پـلار کـره ولاړه سـه او همالتـه اوسـه، تـر څـو اللـه سـبحانه وتعالـی زمـوږ پـه بـاب څـه فيصلـه وکـړي.

دا د نبـي کريـم (صلـی اللـه عليـه وسـلم) امـر وو، چـي ددې دريـو کسـانو سـره بايـد خبـرې ونـه سـي. نـو پـه مدينـه کـي داسـي څـوک پيـدا نـه سـول چـي پـه پنځوسـو (۵۰) ورځـو کـي ددې کسـانو سـره يـوه خبـره هـم وکـړي، دا دی د اطاعـت او مننـي سـتر مثـال. چـي د پنځوسـو (۵۰) ورځـو وروسـته ددې دريـو کسـانو توبـه اللـه سـبحانه وتعالـی قبولـه کـړه

# عمري عدالت په قاموس او اصطلاح کې!

**وروستی برخه / جبريل سعد**

لومـړی د جهـاد د بريـا لـه څـرك او بيـا لـه فتحـې سره سـم يـو څـوك چـې مخکـې يـې نـه جهـاد پـر جهـاد پيژانـد او نـه مجاهـد، بلکـې لا د کلـك او ځواکمـن سـنګر (منافقت)مخالف بـه و؛ اوس را ولاړيـږي او د خپلوانـو ياهـم پـه يـو ډول را شـناخته کړيـو مجاهدينـو پـر خپلـوۍ او شـناخت پـر نظـام ننوزي، دا چـې لـه هغـه سره يـې يـاري د سـوال وي، نـو طبيعـي بيـا بيـا د دې خطـر حـس کـوي چـې داسـي نـه نـن يـا سـبا همدغـه د واسـطې مجاهـد مـې مـاضي افشـا کـړي، نـو پـه نظـام کـې پښـې تکيـه کولـو سره بـس د موکـې پـر موندلـو لومـړی بريـد بېرتـه پـر همدغـه واسـطه کـوي، پـه نـه پلمـو پـه نظـام کـې يـا هـم نـږدې فعاليـت مخنيـوي هڅـې خـو څـه چـې آن د وژنـې هڅـې يـې کـوې. خـو پـه عيـن وخـت کـې نـور ځايونـه پـر نـورو مخونـو ورسره راڅرګندېـږي او د موکـې پـه تناسـب يـې سـتايي، بـد رد پـر وايـي او يـا يـې پـه اړه مطلـق سـکوت کـوي چـې بيـا يـې دا نمـك حرامـي هـم څـوك نـه منـي، مـشران هـم وايـي تـرې خبر نـه يـو او د مظلـوم غـږ خـو هسـې هـم نـه اوري، بلکـې زمـا پـه شـاهدۍ ځينـې لـه بشـپړ جريانـه خبر، يـا د مجاهـد پـر وړانـدې د نـوي وارد انډيـوال او يـا د کـوم مقـام او د پښـو تکيـه چارواکيـو پـه انډيوالـۍ کـې يـې ټولګيـوال مـشران خـو چـې يوائـي دومـره اټـکل او حـس کـړي چـې تـر ده لـوړو مشرانـو تـه يـې غـږ رسـيږي، مجاهـد ملګـري تـه پـه زغـرده وايـي: وزيـر صاحـب تـه يـې ونـه وايـې يـا يـې آن مشـاهده کـړي اسـناد هـم ورتـه توجېـه کـوي او لـه مشرانـو خپـل انډيـوال پـه نظـام کـې غلـی تېروي(...تـر پلـو لانـدې هلـك غلـی تېروينـه)، نـو بـس څکـه يـاري د لـوړ چـارواکي خونـد کـړي. پـر دې سربېره مظلـوم وګـړی او مجاهـد يوائـې د هغـه د همـدې مخالـف او خپـل انډيـوال پـر خولـه ښـه يـا بـد پيـژني، نـور هيـڅ تـه نـه ګـوري او نـه خپـل د سـختو ورځـو د سر سـيوری اوس پيـژني او دا هرڅـه پـه داسـي حـال کـې هـم چـې همـدوی د تصفيـې کمېسـيون رامنځتـه کـړی او د نامطلوبـو د ور پيژندلـو تـر ټولـو زيـات مسـئول هـم دي.

پـه دې ډول چـارواکي او لـه آدرسـه يـې نظـام ټـول د غيـر اهـل او ورننوتيـو مخالفينو(چـې د نظـام لـه پخوانيـو، اهـل او متعهـدو افـرادو سره پـه نـادره پلمـو د ټکـر پـه ښـه بيـا هـم تېـر مخالفـت پرمـخ وړي)بانـډ جوړېـدو سره پـر ځـان خولـې لګـوي او د هغـو وګـړو او مجاهدينـو پـر وړانـدې درول شـوی وي چـې کلونـه او لسـيزې يـې د همـدې چارواکـو او نظـام لپـاره د مـال او تـن هـره قربانـۍ ورکـړې، تـر حاکـم کېـدو يـې ورسره پـر ملتيـا کولـو ورتـه ژمـن پاتـې شـوي او بيـا يـې ترسـيوري لانـدې بيـا هـم ورتـه د خپـل هرڅـه سـپر کولـو پـه بيه د دوام هـوډ درلـود/لـري. د پايلـې پـه توګـه ويـلای شـو چـې نظـام لـه دننـه او د تکيـې سـتنو لـه مخـې پـر لـړزه ښـکاري، پـه داسي حـال او دوام کې(يوائـې نېـك پـالي کـه شي، نور...)يـې نـه کـوم قامـوس د عمـري عدالـت پـر نـوم راسره منـي، نـه يوائـې پـه دې نـوم ښـه او رښـتونی ګرځـې او نـه بايـد پـه دې لـړزه کـې دا نـوم پـر کېښـودل شي چـې خـدای مکـړه لـه يـوې خـوا د عمـر رضـی اللـه عنـه او لـوی ملاصاحـب ارواوې پـرې ازار شي او لـه بلـې خـوا کـه څـوك يـې د رښـتوني عمـري عدالـت پـر ګـمان سـيوري تـه دمـه شي او بيـا لـه همـدې لاملونـو پـرې ور ونړېـږي؛ ړنګېـدل او اړولـی زيـان دواړه بـه يـې د رښـتوني عمـري عدالـت تشـويه او بدرنګـي وي چـې هغـه هيڅکلـه نـه داسـي څـه درلـودل او نـه يـې پـه تدريجـي لـه منځـه تلـو کـې د لامـل پـه توګـه پيژنـدل شـوي دي. دا چـې کـه رښـتيا هـم زمـوږ ليکنـې مـشران ګـوري، پـرې يـو څـه تـه يـې پـام اوړي او دا د ملګـرو د غـږ رسـوني لاره او مـوږ يـې د وهلـو مسـئوليت لـرو؛ نـو پـه برياليتـوب مـو ووهلـه او د لا بريـا پـه هيلـه.



# چیلک انداز

– اصابـت موشـکی بـر پولنـد ،( لهسـتا ن ) دو کشـته بـر جـا گذاشـت و جـو بایـدن می‌گویـد احتمـالا کار روسـیه نیسـت .
چیلک انداز:
مچم که این گپ « تجاهل عارفانه» اسـت و یا هم « تغافل» ؟؟؟
درین هوای سـرد ، تشـخیص هم مشکل است .
– فیسـبوک: جنگ فکری چیست ؟
– چیلک انداز :
از تمـام گپایـش خـو خبـر نیسـتیم، ولـی مامـور گلحیـدر قریـه مـا میگفـت کـه نشـانی جنـگ فکـری اینسـت کـه دوسـت بـا فیـر پلخمـان دشـمن ، کلـه دوسـت خـود را بترکاند !!!
با احترام !
– تلویزیـون من و تو:
شـبهات تاریک اوکراین با صدای مشـمئز کننده پهپادها .
– چیلک انداز :
او رفیق !
در جنـگ خـو کسـی حلـوا و بیسـکویت و سمبوسـه توزیـع نمی‌کنـد، خـو همیـن زدن زدن اسـت دیگـه !
و هر کسـیکه در زدن زدن پس بماند ، خو می‌بازد !!!
– ژورنال :
ایجاد دوباره دانشـکده طب در دانشگاه بدخشان .
– چیلک انداز :
جناب محرر !
«ایجـاد دوباره «و یا» آغاز دوباره « ؟؟؟
شـما رم کـه کسـی چیـزی نگویـد، هـر چـه کـه بـه دهـان تـان آمـد ، بـاد می‌کنیـد !!!

# مذاهب د اسلامي شريعت د فهم وسيله ده!

**بشير احمد الحنفي**

يـو چـا پوښـتنه کـړې وه ويـل دا مذاهـب د کـوم ځـای څخـه راپيـدا سـوه دا پـه ديـن کـې نـوی بدعـت دی مـوږ ټـول د رسـول اللـه _ صلـی اللـه عليـه وسـلم ـ پـه مذهـب يـو .

مـا پـه جـواب کـې ورتـه وويـل: مذاهـب پـه ديـن کـي نـوی شـی نـه دی بلکـې مذاهـب د اسـلامي شريعـت د فهـم وسـيله ده .

د مذاهبـو راټوکېـدل د ديـن د نقـص پـه معنـی نـه دي بلکـې د ديـن د وسـعت او پراخـۍ پـه نتيجـه کـې منـځ تـه راغلـې .

د مذاهبـو اړتيـا هغـه وخـت پيښـه سـوه کلـه چـي خـوږ پيغمبـر لـه نـړۍ څخـه رحلـت وکـړ، دلتـه نـوې تشريـع نـه کېـده ، بايـد همغـه شريعـت کـې ځينـې احـکام تفسـير سـوي وای.

هيـڅ يـو امـام د شريعـت د ثابتـو اصولـو او جـوکاټ څخـه بهـر اجتهـاد نـه دی کـړی، بلکـې ټولـو پـه يـوه دايـره کـې خپـل اقـوال ذکـر کـړي ، خـو پـه مختلفـو نظرياتـو او منقولـو او معقولـو دلايلو .

لـه اسـلامي خلافتونـو سره مذاهبـو نـه هېرېدونکـې همـکاري کـړې ، د حکومـت او دولـت د بنسـټونو لپـاره يـې بېـلا بېـل کتابونـه ليـکلي اجتهـاد يـې کـړي ، قانـوني مصوبـې يـې جـوړي کـړي ، پـه محاکمـو کـې يـې د قضـاء او افتـاء پـه برخـه کـې نـه هېريدونکـي هڅـي کړي.

ټـول اسـلامي امـت پـه قـرآن کريـم او احاديثـو عمـل کـوي ، مذاهـب بيـا د همـدې شرعـي نصوصـو د اخـذ او تـګلاري طريقـه روښـانه کـوي ، ظاهـري تعـارض لـه منځـه ليـري کـوي، ناسـخ او منسـوخ نصـوص ښـکاره کـوي، د عربـو پـه کلام کـې مبهمـو او اجـمالي نصوصـو ته تفصيل لټوي .

بيـا د هـر شرعـي نـص د تطبيـق ځـای پـه مختلفـو اعتباراتـو روښـانه کوي .

د شرعـي نصوصـو مصـدر او مأخذ څرګندوي .

# شعر او ادب

## غزل

**عزام**

د وصال له خوند محروم کړو څو وګړو
پاچاهۍ کې اوس ارمان کړو د جونګړو
ځینې مړه شي، خو یادونه یې ژوندي وي
ډېر ژوندي دي، چې حساب یې شي په مړُو
چې ککرې به یې د هر ښکېلاک کوټلې
ها ځوانان نن وتړل د مادې پړو
د سپوږمۍ او د مریخ تحقیق دې نور کا
پښتانه کله دي خلاص له قومي شخړو
تیارخورو دا وطن تر وسه چور کړ
ربه! مرسته! ازموینه شوه د سترو
د «عزام» یاران د ګوتو په شمېر پاتي
څوک درهم او دینار رانیول، څوک خرو

## غزل

**حکیم سنایی غزنوی (رح)**

خیز تا ما یک قدم بر فرق این عالم زنیم
وین تن مجروح را از مفلسی مرهم زنیم
تیغ هجران از کف اخلاص بر حکم یقین
در گذار مهرهٔ اصل بنی آدم زنیم
جمله اسباب هوا را برکشیم از تن سلب
پس تبرا را برو پوشیم و کف بر هم زنیم
از علایقها جدا گردیم و ساکن‌تر شویم
بر بساط نیستی یک چند گاهی دم زنیم
تیغ توحید از ضمیر خالص خود برکشیم
بر قفای ملحدان زان ضربتی محکم زنیم
آتش نفس لجوج ار هیچ گون تیزی کند
ما به آب قوت علوی برو برنم زنیم
بار خدمت را به کشتی سعادت در کشیم
پس خروشی بر کشیم و کشتی اندر یم زنیم
اسب شوق اندر بیابان محبت تا زنیم
گوی برباییم و لبیک اندرین عالم زنیم
پیش تا سفله زمانه بر فراقم کم زند
خیز تا بر فرق این سفله زمانه کم زنیم

## غزل

**درویش دورانی**

زړه مې درد کوي له زړه ورپسې ژاړم
دښمنان چې مې وي مړه ورپسې ژاړم
ما د یار دغه غوښتنه هم پوره کړه
نه یې نوم اخلم او نه ورپسې ژاړم
بیلتانه یې د هرچا په غم شریک کړم
یار د بل درومي او زه ورپسې ژاړم
چې تر څو مې وي دا زړه نو یادوم یې
چې تر څو لرم لیمه ورپسې ژاړم
مخ او زلفې یې په یاد راځي درویشه
په رڼا او په تیاره ورپسې ژاړم

# د حضرت محمد صلي الله علیه وسلم سپېڅلی ژوند

# د حُنین غزا

لیکنه: محمود شلبي / ژباړه: محمد علي عظمت / ۷۱مه برخه

مونږ د مکې مکرمې له سوبې وروسته د هجرت په اتم کال کې یو....

کله چې هوازن قبیلې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راتګ او د مکې د فتح کېدو واورېدل، مالک بن عوض د راغونډولو تکل وکړ، نو دوی هم د ثقیف له هوازن سره ورته راجمع شول، د نصر، جُشم ټول وګړي همداشان د سعد بن بکر او د بنو هلال ځینې کسان هم ورته راغونډ شول.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې له دوو زرو کسانو سره ووت، چې لس زره هغه صحابه کرام رضی الله عنهم وو، چې مکه یې د الله جل جلاله په مرسته فتح کړې وه، هغوی هم روان شول.

**نو ټول دوی دولس زره وو.**

او رسول الله صلی الله علیه وسلم عتاب بن اُسید



رضی الله عنه د مکې امیر وټاکه او خپله په خپله مخه روان شو، له هوازن سره د مخامخ کېدو هوډ یې و.

**ماتې خوړل**

له جابر بن عبدالله رضی الله عنهما نه روایت دی، وایي: کله چې مونږ د حنین وادي ته ورسېدو، د تهامه له ناوونو څخه په یو ناو کې ښکته شو او مونږ په هغه کې کوزېدو او د سهار تیارې لا وې. او هغوی له مونږ مخکې وادي ته رسیدلي وو، نو مونږ ته یې په پټو لارو، اړخیو او تنګیو کې کمیونه نیولي وو، ټول راغونډ شوي، تیار او چمتو ناست وو.

نو په الله جل جلاله قسم، هغوی زمونږ هیڅ پروا و نه ساتله او مونږ مخ په ښکته روان وو، خو څو قطعو پر مونږ باندې د یوه سړي د حملې په څېر برید وکړ.

او مسلمانان تیت پرک شول او ماتې خوړلي ستانه شول، چې له هغوی څخه یوه هم بل ته مخ نه را اړاو.

**زه د الله جل جلاله رسول یم**

او رسول الله صلی الله علیه وسلم ښي اړخ ته شو، بیا یې وویل: «اې خلکو! زما لور ته راشئ، زه د الله جل جلاله رسول یم، زه محمد د عبدالله زوی یم».

جابر رضی الله عنه وایي: هیڅ ځواب نه و! اوښانو ځینو په ځینو پسې منډې وهلې، نو ټول خلک لاړل.

خو دا چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره له مهاجرینو، انصارو او اهل بیتو څخه یو شمېر کسان پاتې وو.

**د مکه والو خوښي**

نو کله چې مسلمانانو ماتې وخوړه او د مکې بې وفا کسانو ماتې خوړل ولیدل، نو له دې خلکو څخه چې د دوی په زړونو کې د دښمنۍ څه و، خبرې یې پیل کړې. نو ابوسفیان بن حرب وویل: تر بحره پورې د دوی (مسلمانانو) ماتې نه ختمیږي. او جبلة بن جنبل ناره کړه: خبردار! نن سهار له منځه لاړ.

اې خلکو چېرته؟

له عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه نه روایت دی، وایي: زه یو غټ سړی وم، غږ مې هم لوړ (اوچت) و او رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله د مسلمانانو دا کړه وړه ولیدل، نو ویې ویل: «چېرته درومئ اې خلکو؟» ما ولیدل چې مسلمانانو بېرته شا ته هیڅ شي ته هم نه کتل، نو ویې ویل: «اې عباسه! غږ ورته وکړه، چې اې د انصارو ټولیه، اې د ونې د اصحابو ټولیه!» نو ځواب یې ورکړ: لبیک لبیک (حاضر یو، حاضر یو) نو مسلمانان په خورا چټکۍ سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور ته ورغلل.

**اوس جګړه توده شوه**

تر دې، چې هغه ته سل کسان راغونډ شول، نورو خلکو هم ورته رامخه کړه، نو جګړه پیل شوه. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنګ ډګر ته وکتل، که ګوري مسلمانان په خرپ تورې چلوي، نو ویې ویل: «اوس جګړه توده شوه».

او دواړو خواوو ښه جګړه وکړه، مسلمانان چې له ماتې راستنېدل، نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکې بندیان تړلي پراته وو.

او د حُنین وګړیو ته الله جل جلاله ماتې ورکړه او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې پر هغوی باندې برلاسی کړ.

او کله چې مشرکانو ماتې وخوړه، طائف ته لاړل او مالک بن عوف هم ورسره و. او ځینو په اوطاس کې سنګر ونیو او یو شمېر نورو (نخلې) ته مخه کړه.

او الله جل جلاله د حُنین د غزا (ورځې) په اړه دا نازل کړل: ژباړه: حقیقت دا دی، چې الله جل جلاله په ډېرو ځایونو کې ستاسو مرسته کړې ده او په (ځانګړې ډول) د حُنین په ورځ، چې ستاسو ډېروالي تاسو په تعجب کې اچولي وئ، خو هغه ډېروالي له تاسو نه څه ایسار نه کړل او زمکه له پراخوالي سره درباندې تنګه شوه، بیا مو شا کړه (له ډګره) وتښتېدئ. د توبې سورت (۲۵) آیت.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د حُنین بندیان او مالونه ور جمع شول.

**د طائِف کلابندي**

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له حُنین څخه وزګار شو، بیا یې طائِف ته مخه کړه. رسول الله صلی الله علیه وسلم روان شو او طائِف ته نژدې یې پړاو واچاوه او هلته یې سنګر ونیو.

نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم له اصحابو کرامو رضی الله عنهم څخه ځینې کسان په غشو سره شهیدان شول او دا ځکه، چې د دښمن لښکرې د طائِف دېوال ته نژدې شوې وې، نو غشي هغوی ته ورسېدل. او مسلمانانو و نه شو کړای چې له دېواله ور واوړي، نو په دوی پسې یې دروازې ور وتړلې. نو کله چې له اصحابو څخه دا کسان په غشو لګېدو سره شهیدان شول، لښکر یې له هغه جومات سره میشت کړ، چې هغه (جومات) تر اوسه ودان دی، بیا یې دوی (مشرکان) څه د پاسه شل شپې کلابند کړل.

په اسلام کې تر هر چا وړاندې رسول الله صلی الله علیه وسلم په منجنیق ګوزار وکړ!

رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی په منجنیق وویشتل، نو په اسلام کې تر ټولو وړاندې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویشتل وکړل، د طائِف وګړي یې پرې وویشتل. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د کوچ کولو د اعلان امر وکړ، نو عمر رضی الله عنه د کوچ کولو اعلان وکړ.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم د طائِف له جګړې او کلابندۍ نه راوګرځېده.

**ستاسو اولادونه درته ګران دي، که مالونه!؟**

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له طائِفه را وګرځېده، نو له مسلمانانو سره یوځای ووت، روان شو، څو په جعفرانه کې تم شو او له ده سره د هوازن ډېر بندیان وو.

او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د هوازن شپږ زره بندیان وو، چې ښځې او ماشومان په کې وو او د اوښانو او مېږو شمېر یې نه شمېرل کېده.

او د هوازن وفد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او اسلام یې راوړ، نو ویې ویل: یا رسول الله! مونږ د کور، قام، قبیل خلک یو او مونږ ته دا ازموینښت او کړاو ورسېده، چې تاسو ته څرګند دی، نو پر مونږ احسان وکړه، الله جل جلاله به پر تاسواحسان وکړي!

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: «خپلخانې او ښځې مو درته ګرانې دي، که مالونه!؟»

بیا هغوی وویل: یا رسول الله! تا مونږ ته د مال او اولاد ترمنځ اختیار راکړ!؟ نو مونږ ته زمونږ ښځینه او خپلخانې راکړه، ځکه دا راته ګران دي.

هغه دوی ته وویل: «خو هغه چې زما او د بنو عبدالمطلب سهم دی، نو هغه ستاسو شو او کله چې ما د ماسپښین لمونځ اداء کړ، بیا تاسو پاڅېږئ او ووایاست، چې مونږ د خپلو اولادونو او خپلخانو په هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته شفیع ګرځوو، نو زه به یې هغه مهال تاسو ته (خپل سهم) درکړم اوستاسو لپاره به غوښتنه وکړم».

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خلکو باندې د ماسپښین لمونځ وکړ، هغوی پاڅېدل، هغه خبرې یې وکړې، د څه چې هغه امر ورته ورکړی و.

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: کومه برخه چې زما او د بنو عبدالمطلب ده، هغه ستاسو شوه.

بیا مهاجرینو وویل: څه چې زمونږ دي، هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم شول.

ورپسې انصارو غږ کړ: او کوم سهم چې زمونږ دی، هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم شو.

# د عمر رضي الله عنه وېره!

**استاد حامد**

حذیفة بن الیمان رضي الله عنه وایي: عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته ورغلم، هغه خپه او غمژن ناست و، ورته ومې ویل: امیر المؤمنین! ولې خپه یې؟ هغه راته وویل: ځکه ډاریږم چې ناروا کار به رانه وشي او ستاسو هیڅوک به زما د درنښت او احترام له امله څه نه راته وایي! (له ناروا به مې نه منعه کوي).

حذیفة ورته وویل: په الله مې قسم، که موږ تا ووینو چې له حقه کوږ شوې؛ نو خامخا به دې منعه کوو. په دې سره عمر خوشاله شو او ویې ویل: هغه الله لره حمد او ثنا ده، چې داسې ملګري یې راکړي دي چې د کږېدا پر مهال مې سمې لارې ته برابروي. (الحمدلله الذي جعل لي أصحابًا يُقومونني إذا اعوججت). عمر بن الخطاب وأصول السياسة والإدارة الحديثة لدكتور سليمان الطماوي

واکمنو ته چاپلوسي مه کوئ، بلکې د حذیفة بن الیمان رضي الله عنه په څېر حقه خبره ورته کوئ، په دې سره به د ولس په اصلاح او هیواد په جوړونه او بیارغونه کې برخه وال یئ.

ان شاء الله تعالی

# له اسلامـــي نظام څخه بغــاوت!

**م. اسدالله محمد / لومړی برخه**

بغــاوت عربــي كلمــه ده, پــه لغــت كــې: ظلــم او تعــدي تــه ويــل كېــږي. كوونكــي تــه يــې باغــي او جمــع يــې بغــاة (باغيــان) راځــي.
د أهــل الســنة والجماعــة پــه مشــهورو كتابونــو كــې د باغيانــو تعريــف: باغيان داســې ډولــی دی چــې د يوې پلمــې پــه اســاس د شــوكت او دبــدې پــه درلودلو ســره لــه عــادل امــام او مؤمنانــو ســره جنګېــږي او وايــي چې:(حــق زمــوږ ســره دی او مــوږ پــه ځمكــه كــې د واكمنــی ربښــتيني مســتحقين يو.)
د انســانانو د لــړۍ لــه پيــل ســره ســم بغــاوت هــم پيل شــوی, قابيــل د هابيــل پــه وړانــدي بغــاوت وكــړ ځان يــې پــه حــق ګڼــل او هابيــل يــې ووژل.
د بغاوت په اړه الله تعالی داسي فرمايي:
ژبــاړه: او كــه لــه مؤمنانــو څخــه دوې ډلــي پخپلــو منځــو كښــي پــه جنــګ شــي، نــو د هغــو پــه منــځ كښــي صلــح وكــړئ. بيــا كــه لــه هغــو څخــه يــوه ډله پــر بلــي تېــری وكــړي، نــو لــه تيــري كوونكــي (ډلــي) ســره وجنګېــږئ، تــر دې پــوري چــي هغــوی د اللــه د حُكــم خواتــه راوګرځــي.
– د بغاوتونو تاريخي بېلګې او زيانونه يې:
د مؤمنانــو أميــر علــي - رضــي اللــه عنــه - د ســهارګا په تيــاره كــې د ســهار لمانځــه لپــاره د جومــات خواتــه روان دی, يــو شــوم هــدف لرونكــی باغــي چــې ابــن ملجــم نومېــږي، خپلــي موخــې تــه رســېدونكی دی. دا د خلوېښــتم هـــق كال د روژې مباركــې مياشــتې ١٩مــه شــپه ده. د اســلام څلــورم راشــد خليفــه د يــوه خفيــه بغــاوت پــه پايلــه كــې پــه چاقو وهــل كېــږي او د ســختو زخمونــو لــه كبله د همــدې مباركې مياشــتې پــه ٢١ مــه شــپه پــه شــهادت رســېږي.
دا واقعــه د اســلام پــه تاريــخ كــې د بغــاوت يــوه بلــه بوږنوونكــې پېښــه وه. تــر دې د مخــه د مســلمان پــه جامــه كــې د ابــن ســبأ يهــودي فتنــه هــم د دغــه كرغېــړن عمــل د تأســيس يــوه خښــته وه چــې د حضــرت عثمــان ذوالنوريــن - رضــي اللــه عنــه - پــه شــهادت انجــام شــوه.
د امــت د كمــزورۍ او د ظلمونــو بنسټ بغــاوت دی، بغــاوت دی چــې راشــده دوران يــې ولــړزاوه، ملوكيــت تــه يــې لاره پرانيســته او د واک پرســر يــې د مســلمانانو ترمنــځ د جګــړو اســاس كېښــود...
لــه راشــده خلافــت څخــه را وروســته د اســلام پــه تاريــخ كــې د نظــام پــه وړانــدې ګــڼ بغاوتونــه ترســره شــوي دي. هغــه مهــال چــې أمــوي خلافــت ســقوط شــو نــو پــه (١٣٤/١٣٣ هـــق.) كال كــې أبوالعبــاس ســفاح خليفــه وټــاكل شــو او د أبومســلم خراســاني پــه مرســته يــې د عباســيانو خلافــت تأســيس كــړ. لــه دې ســتر بدلــون څــو كالــه وړانــدې پــه (٩٢ هـــق) كال كــې د نــړۍ پــه هــا بــل كونــج (أندلــس) كــې طــارق ابــن زيــاد - رحمــه اللــه - ســتره فتحــه ترلاســه كــړه. څــه بانــدې (٨٠٠) كالــه وروســته د اندلــس پــه أميرانــو بانــدې د مسلســلو بغاوتونــو پــه پايلــه كــې د دنيــا جنــت (أندلــس) عيســويانو تــه وســپارل شــو.
دا هغــه كرڼــه وه چــې مســلمانان او د وخــت خلافــت يــې پــه ډېــر قــوت ســره وننګاوه. مؤمنو لښــكرو چې كلــه هــم باغيــان نــدي رټلــي او خپلــو موخــو تــه پرېښــودل شــوي دي نــو د وخــت نظــام يــې ننګولی او مســلمانانو تــه يــې ســتر زيانونــه اړولــي دي.
زمــوږ د ديــن او هيــواد دښــمنان نــن هــم غــوارې پــه افغانســتان كــې خپــل شكســت او ذلــت د باغيانو مټ جبــران كــړي او د دوهــم يرغــل لپــاره د بغاوتګــرو پــه لاس لاره پرانيــزي؛ افغــان ملــت او اســلامي امــارت بايــد پــه ټــول حكمــت او قــوت ســره د بغاوت ريښــې تشــخيص كــړي او پــه وخــت يــې عــلاج وكــړي.
باغيــان د عامــه مصالحــو او دينــي شــعائرو د دفــاع او اســتحكام لپــاره نــه, بلكــې د خپلــو شــخصي اغراضــو او تعبيرونــو پــه اســاس لــه حاكــم نظــام ســره جنګېــږي. د دوی يوازينــی موخــه ســلطه او واک ترلاســه كــول وي. باغيــان چــې د واک نشــه يې ســرته ختلــې وي د خپلــو شــخصي غريــزو پــه ســبب د وخــت پــه مســلمان امــام بانــدې پــر خــروج ســربېره بيلابېلــې نــاروا كړنــې ســرته رســوي چــې بالآخــره پــه دنيــا او آخــرت كــې د همــدوی پــه هلاكــت انجامېــږي. څــوک چــې د شــريعت خــلاف وســلې تــه لاس اچــوي، د هغــوی وهــل ټكــول لازم دي.
كــه اســلامي تاريــخ تــه يــو نظــر وكــړو نــو جوتــه بــه شــي چــې د اســلامي نظــام د دښــمنانو پــر وړانــدې د قاطــع دريــځ درلــودل د حاكــم نظــام پــه اســتحكام تعبيرېــږي، د باغيانــو پــه وړانــدې جديــت د امــن د تاميــن او د ټولنــې د پرمختــګ راز ده.
– د باغيانو حكم.
كــه د باغيانــو لــه خــوا د مســلمان حاكــم پــه مقابــل كــې د بغــاوت غــږ پورتــه شــي نــو پــه اولوالامــر بانــدې لازمــه ده چــې د باغيانــو ســره خبــري وكــړي، كــه د هغــوی غوښــتنې حقــې وي بايــد غوښــتنې يــې ومنــي او حــق ورتــه وســپاري امــا كــه غوښــتنې يــې ناحقــه وي نــو بايــد پــه وړانــدې يــې جنــګ وكــړي، پــه مومــن ولــس لازمــه ده چــې د حاكــم ترڅنــګ د باغيانــو پرضــد ودريــږي او ترهغــه وختــه باغيــان وټكــوي چــې شــوكت يــې لــه منځــه ځــي يــا حــق تــه غــاړه ږدي؛ نــاوړه غوښــتنې لكــه اوســني ځينــي چــې د اســلامي امــارت پــه مقابــل كــې راپورتــه شــوي دي او د اميــر المؤمنيــن نــه ډيموكراســی، بــې ســتري، فحاشــي، د پرديــو غلامــي، تجزيــه، د قــدرت وېــش او داســي نــورې نامشــروعو او غيــر معقولــې غوښــتنې لــري....
پــه دغســي صــورت كــې د باغيانــو پــه ضــد جنــګ فــرض او پــه عامــو خلكــو لازمــه ده چــې د امــام ترڅنــګ ودريــږي، كــه باغيانــو ماتــې وخــوړه او پــه شــا شــول، نــو اولوالامــر يــې هــم بايــد لــه قتــل او قتــال نــه لاس واخلــي. ددوی ژوبــل كســان او بنديــان بايــد ونــه وژنــي او پــر هغــو كســانو، چــې وســله كيــږدي، بايــد وســله ونــه كاروي اومــرګ تــه يــې بايــد هڅــه ونــه كــړي. د دوی مــال اومتــاع دې نــه تــالا كــوي. ښــځې او ماشــومان دې تــر اســتبداد لانــدې نــه نيســي، ځكــه چــې رســول اللــهﷺ فرمايلــي دي:
چــه د اســلامي وطــن پــه بركــت هغــه څــه لــه تعرض نــه مامــون دي چــې پــه دارالاســلام كــې موجــود وي.
كــه جنــګ پــای تــه ورســېد، نــو د دوی هغــه مالونــه چــې پــه جګــړه كــې ورنــه نيــول شــوي دي، هغــه بايد دوی تــه بېرتــه وســپارل شــي او چــا چــې د جګــړې لــه ميدانــه بهــر ددوی مالونــه تلــف كــړي وي، پــه هغــو بانــدې يــې ضمــان لازم دی او د جګــړې پــه ميــدان كــې تلــف شــوي مالونــه هــدر دي او كــه دوی د اهــل عــدل مــال او متــاع د جګــړې لــه ميدانــه بهــر تلــف كــړي وي، نــو پــه دوی بانــدې جبــران لازم دی، چــې همــدا راجحــه رايــه ده. ددې مقابــل قــول پــه باغيانــو بانــدې د جګــړې د تلفاتــو جبــران لازم بولــي، ځكــه چــې ګنــاه هيــڅ حــق نشــي باطلولــی او نــه د چــا پور لــه منځــه وړلــی شــي. د لومړۍ نظريــې دليــل د هغې عظيمــې واقعــې پــه بــاب د صحابــه كرامــو اجمــاع ده، چــې د علــي كــرم اللــه وجهــه او معاويــه رضــي اللــه عنــه د حكومــت پــه وخــت كــې يــې د مســلمانانو تر منــځ پيښــه شــوې ده. هغــه اجمــاع دا ده : (څوک چې د قــران د تاويــل پــه دليــل د كــوم نــاروا كار مرتكــب شــي، پــه هغه بانــدې حد نــه تطبيقيــږي. مګــر څــوک چــې د قــرآن د تاويــل پــه دليــل د چــا مــال تلــف كــړي، هغــه تــاوان نــه لــري. همدارنګــه كــه د جنــګ پــور ورپــه غــاړه شــي نــو دوی بېرتــه زره نــه ښــه كــوي او لــه اطاعــت نــه غــاړه غړولــو تــه دوام وركــوي .
كــه څــه هــم باغيــان د جنــګ د خســارو او تلفاتــو مســئول نــه دي، مګــر اولوالامــر كولــی شــي چــې دوی ونــه ښښــي او د بغــاوت او انقــلاب تعزيــري جزا وركــړي. دامــام مالــک (رحمــة اللــه عليــه) امــام شــافعي (رحمــة اللــه عليــه) او امــام احمد ابــن حنبل (رحمــة اللــه عليــه) پــه نــزد، بــه تعزيــري جزا لــه قتل نــه ســپكه وي. ځكــه چــې دوی درې واړه د اســيرانو او زخميانــو وژل روا نــه بولــي، نــو د مســلم وژل خــو پــه اولــی طريقــه بايــد روا نشــي. مګــر امــام ابــو حنيفــه (رحمــة اللــه عليــه) چــې د اجتماعــي مصلحــت پــه منظــور، د اســير وژل رواګڼــي، همدارنګــه د مغلــوب شــويو باغيانــو وژل د تعزيــري جــزا پــر اســاس د اجتماعــي مصلحــت لپــاره رواګڼــي. يعنــې د امــام ابوحنيفــه رحمــة اللــه عليه پــه قيــاس، باغي يــا باغيان د تعزيــري جــزا لــه مخــې وژل كيــدای شــي، مګــر لــه دې ټولــو خبــرو ســره ســره څرنګــه چــې د تعزيــري جزاګانــو پــه برخــه كــې د قاضــي واک او اختيــار ډيــر زيــات دی، كولــی شــي چــې مجــرم تــه داســې جــزا وټاكــي چــې لــه اجتماعــي مصلحــت ســره ســره د مجــرم د حــال مطابــق وي. اولوالامــر صلاحيــت لــري، چــې د يــوه باغــي تعزيــري جــزا پــه ټوليــزه توګه وبښــي يــا يــې ســپكه كــړي. **نــوربيــا ...**

# افغــان اعــلانــات

**اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد**

بدینوسیله بـه تأسـی از فقـره (۱ و ۲) مـاده چهـل و سـوم قانـون تـدارکات بـه اطـلاع عمـوم رسـانیده میشـود، ریاسـت عمومـی تصـدی ملـی محافظـت عامـه در نظـر دارد، پـروژه تـدارک دو قلـم تیـل دیـزل و پطـرول مـورد ضـرورت جنراتـور قطعـات و جزوتـام هـای ریاسـت محافظـت پـروژه هـای دولتـی تصـدی ملـی محافظـت عامـه بابـت سـال ۱٤٠۱ را بـه مبلـغ {۱۳,۹۸۰,۷۳۷ سـیزه میلیـون و نـه صـد و هشـتاد هـزار و هفتصـد و سـی و هفـت افغانـی بـه شـرکت محتـرم گل دوسـت امانـی لمیتـد دارنـده جـواز شـماره (۱۷۹۰۵-۰۱۰۱) کـه آدرس آن کارتـه نـو ځاځـی مارکیت؛مرکـز کابل؛کابـل بـوده اعطـا نمایـد.
اشـخاص حقیقـی و حکمـی کـه هـر گونـه اعتـراض در زمینـه داشـته باشـند، میتواننـد اعتـراض خویـش را از تاریـخ نشـر ایـن اعـلان الـی مـدت هفـت روز تقویمـی طـور کتبـی تـوأم بـا دلایـل آن بـه آمریـت تهیـه و تـدارکات، ریاسـت محتـرم تصـدی ملـی محافظـت عامـه وفـق احـکام مـاده پنجاهـم قانـون تـدارکات ارایـه نماینـد.
ایـن اطلاعیـه بـه معنـی عقـد قـرارداد نبـوده، الـی تکمیـل معیـاد فـوق الذکـر و طـی مراحـل قانونـی بعـدی، قـرارداد منعقـد نخواهـد شـد.۳۰٦۲

***

**اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه**

محتـرم شـاه رخ فرزنـد محمـد نـوروز خـان ولدیـت عبدالکریـم خـان دارنـده وکالـت خـط نمبـر ( ع۱۸۵ /خ۲۲ ) مـورخ ۳/ ۱/ ۱٤٤٤ مسـکونه اصلـی ولایـت کابـل وکیـل شـرعی دواخانـه منصـور کریمـی واقـع ولسـوالی قـره بـاغ ولایـت کابـل ملکیـت محتـرم محمـد نـوروز فرزنـد عبدالکریـم طی درخواسـتی بـه مقـام محتـرم اداره ملـی غـذا و ادویـه افغانسـتان عـارض و خواهـان فـروش امتیـاز دواخانـه مـوکل خویـش بـالای محتـرم احمـد بهاوالدیـن عـرب زاده فرزنـد حاجـی رحمـت الله عـرب زاده ولدیـت حاجـی خـداداد عـرب زاده دارنـده تذکـره شـماره ( ۱٤٠٠-۱۱٠۱-٠۲۷۹۸ ) مسـکونه اصلـی ولایـت کابـل گردیـده اسـت .
اشـخاص موسسـات ودوایـر دولتـی در مـورد ادعـای داشـته باشـند از تاریـخ نشـر اعـلان الـی مـدت ۱۰ روز بـه آدرس اداره ملـی غـذا وادویـه افغانسـتان واقـع چهـار راهـی حاجـی یعقـوب خانـه نمبـر (۲۱٤) مراجعـه نماینـد.۳۰۷۸

***

**اطلاعیه مفقودی**

دوجلـد جـواز سـیر موتـر هـر یـک دارای نمبـر پلیـت (۱۱۹۹۳) دولتـی موتـر کـرولا و (۹۷۲۹) دولتـی موتـر پیکـپ مربـوط شـرکت محتـرم برشـنا مفقـود گردیـده بنـاء از اعتبار سـاقط مـی باشـد.۳۰٦۸

***

**اطلاعیه مفقودی**

یـک قطعـه قبالـه عرفـی زمیـن واقـع ولایـت لوگـر ولسـوالی برکـی بـرک بـه اسـم جاویـد فرزنـد عبدالهـادی مفقـود گردیـده اعتبـار نـدارد.۳۰٦٤

***

**اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات**

جـواز شـماره ( ۲۸٤٦ ) مـورخ ۱۲/ ۱۰/ ۱۳۹۸ متصـدی رهنمـای معامـلات نـوی رسـول زاده واقـع ناحیـه ٦ شـاروالی کابـل بـه نـام مرتضـی فرزنـد فقیـر حسـین خواهـان فسـخ جـواز خویـش گردیـده اسـت . بنـاء بعـد از نشـر اعـلان رهنمـای مذکـور فاقـد اعتبـار قانونـی بـوده هـرگاه ادارات دولتـی و اشـخاص انفـرادی بـالای موصـوف ادعـای حقوقـی بـه ارتبـاط فعالیـت جـواز مذکـور داشـته باشـند بعـد از نشـر اعـلان الـی یـک هفتـه بـه ریاسـت انسـجام ، بررسـی و ثبـت جمعیـت هـا و احـزاب - وزارت عدلیـه اطـلاع دهنـد.۳۰٦۳

***

**اطلاعیه دعوت به داوطلبی**

بدیـن وسـیله بـه تاسـی از فقـره ۲ مـاده چهـل سـوم قانـون تـدارکات بـه اطـلاع عمـوم افـراد و اشـخاص رسـانیده مـی شـود .
شـاروالی شـهر چاریـکار در نظـر دارد یـک بـاب جمنازیـوم صالـون فوتسـال را واقـع تفریـگاه گلغنـدی جـوار شـهرک احمـد شـاه مسـعود ملکیـت خویـش را جهـت اشـتراک گـزاری در مجلـس مزایـده در سـال مالـی ۱٤٠۲ (۱٤٤٤ الـی ۱٤٤۵) میگـزارد افـراد و اشـخاص واجـد شـرایط درخواسـت هـای خویـش را بـه ریاسـت شـاروالی چاریـکار بسـپارند و خـود شـان الـی مـدت ۲۱ روز بعـد از نشـر اعـلان غـرض داوطلبـی بـه شـاروالی شـهر چاریـکار بخـش قـرار داد هـا بـه سـاعت ۱۰ قبـل از ظهـر حاضـر شـرطنامه را ملاحظـه نمـوده تضمیـن نقـدا اخـذ میگـردد توزیـع شـرطنامه در بـدل ۱۰۰۰ یـک هـزار افغانـی توزیـع میگـردد.۳۰۳۱

***

**اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد**

د تداركاتـو قانـون د دري څلوېښـتمې مـادې د (۲) فقـرې لـه مخـې ټولـو تـه خبـر وركـول كيـږي چـې د ا.ا.ا سـتره محكمـه پـه نظـر كـې لـري د ۱٤٠۱ مالـي كال لپـاره د افغـان خالـد لوژسـتيكي او ساختماني خدمتونو شـركت سـره چـې د جـواز شـميره(٦۹۵٦٦) ده او د كابـل ولايـت مركـز نـوي ښـار سـيمه كـې د انصـاري او حاجـي يعقـوب څلـور لارو ترمنـځ موقعيـت لـري د (٤۸۲۷۵۲۰) څلـور ميليونـه او آتـه سـوه اوه ويشـت زره او پنځـه سـوه او شـل افغانيـو پـه قيمـت سـره د سـترې محكمـې د ۱۲ ډولـه موټرونـو لپـاره د ۷۵قلمـه پُـرزو د تـدارک قـرارداد وكـړي.
هـر ډول حكمـي او حقيقـي شـخصيتونه چـې پـدې اړه نيوكـه لـري د تداركاتـو قانـون د پنځوسـمې مـادې لـه مخـې كـولاې شـي پـه ليكلـي ډول د دلايلـو پـه لرلـو سـره خپلـې نيوكـې د دې اعـلان د خپريـدو لـه نېټـې څخـه تـر اوو(۷) تقويمـي ورځـو پـورې د عامـې روغتيـا څلـور لارې تـه څېرمـه د سـترې محكمـې مالـي او اداري عمومـي رياسـت اړونـد د تداركاتـو آمريـت تـه وړانـدې كـړي.
دا خبرتيا د قرارداد د تړلـو پـه معنـی نـه ده د پورتـه ذكـر شـوې نېټـې تـر پـوره كيـدو او نـورو قانونـي مرحلـو تـر سـرته رسـولو پـورې قرارداد نـه تـړل كيـږي. ۳۰۵۹

***

**اطلاعیه تصمیم براعطای قرارداد**

بدینوسـیله بتأسـی از فقـره (۲) مـاده (٤۳) قانـون تـدارکات بـه اطـلاع عمـوم رسـانیده میشـود کـه وزارت آب و انـرژی در نظـر دارد قـرارداد خریـداری پـروژه هـای( ۵۲ قلـم قرطاسـیه بـاب و ۱۱ قلـم لـوازم دفتـری مـورد ضـرورت سـال ۱٤٠۱ دارای کـود نمبـر هـای MEW/PD/G002,3- 1401/NCB )را بـه شـرکت هـای:
۱- پـروژه ۵۲ قلـم قرطاسـیه بـاب بـا شـرکت سـاختمانی و تجارتـی محمـد کیهـان حیـدر زاده و شـرکت خدمـات لوژسـتیکی نگیـن بهـار(JV) دارنـده جـواز نمبـر(D-57689) واقـع ( چهاراهـی سـابقه تایمنـی ناحیـه ٤، مرکـز کابـل) بـه قیمـت مجموعـی (۵,٦٠۵,٠٦٦,۵) افغانـی.
۲-پـروژه ۱۱ قلـم لـوازم دفتـری بـا شـرکت سـاختمانی و تجارتـی محمـد کیهـان حیـدر زاده دارنـده جـواز نمبـر(D-57689) واقـع ( چهاراهـی سـابقه تایمنـی ناحیـه ٤، مرکـز کابـل) بـه قیمـت مجموعـی (۱,۹۳٦,۲٠٠) افغانی.اعطـاء نمایـد. اشـخاص حقیقـی و حکمـی کـه هرگونـه اعتـراض در زمینـه داشـته باشـند، میتواننـد اعتـراض خویـش را از تاریـخ نشـر اعـلان الـی هفـت روز تقویمـی طـور کتبـی تـوام بـا دلایـل آن بریاسـت تـدارکات وزارت آب و انـرژی واقـع سـرک دارالامـان ایسـتگاه سـناتوریم، وفـق احـکام مـاده (۵٠) قانـون تـدارکات ارائـه نماینـد.
ایـن اطلاعیـه بـه معنـی عقـد قـرار داد نبـوده و الـی تکمیـل میعـاد فـوق الذکـر و طـی مراحـل قانونـی بعـدی، قـرارداد منعقـد نخواهـد شـد

***

**اطلاعیه به کرایه دهی**

شـرکت افسـوتر یـک بـاب دوکان بـه مسـاحت ۱۰ متـر مربـع ملکیـت خویـش را واقـع کوچـه گلفروشـی شـهرنو کابـل را از طریـق داوطلبـی بـه کرایـه میدهـد.
اشـخاص حقیقـی و حکمـی کـه خواهـش بـه کرایـه گرفتـن آنـرا داشـته باشـند درخواسـتی و آفرهـای خویـش را بعـد از نشـر اعـلان الـی ۲۱ روز بـه ریاسـت افسـوتر واقـع کوچـه گلفروشـی شـهر نـو کابـل سـپرده ، خـود و یـا نماینـده قانونـی شـان سـاعت ۱٠:٠٠ قبـل از ظهـر در جلسـه آفرگشـایی اشـتراک نمـوده ، شـرطنامه را ملاحظـه تضمیـن نقـدا اخـذ میگـردد.۳۰۷٦

***

**اطلاعیه به اجاره دهی**

ریاسـت اراضـی مـوازی ۱۵ جریـب زمیـن دولتـی واقـع دانشـمند را تثبیـت نمـوده و آمـاده اجـاره بـه طـور قـرار داد ۲۵ سـال بـه منظـور کشـت و زراعـت بـا حـد اقـل اجـاره از قـرار فـی جریـب مبلـغ ٤٠٠٠ افغانـی بـرای مـدت سـالانه مطابـق طرزالعمـل احـکام فصـل اجـاره دهـی ، قانـون تنظیـم امـور زمینـداری بـه اجـاره میدهـد. داوطلبـان و شـرکت هـای کـه ثابـت نماینـد اهلیـت حقوقـی ،و لیاقـت مسـلکی و تخنیکـی ، منابـع مالـی ، تجهیـزات و کارکنـان فنـی بـرای اجـرای قـرار داد و تجربـه مربـوط در موضـوع (زراعـت کشـمندی) را دارا باشـند الـی ۱۰ یـوم از نشـر ایـن اعـلان بـه درخواسـت هـای خویـش بـه مدیریـت اراضـی مراجعـه نماینـد. فورمـه هـای لازم اجـاره دهـی را همـراه بـا شـرطنامه از مدیریـت اراضـی ولسـوالی شـکر دره اخـذ نماینـد.
مجلـس مزایـده کـه در حضـور داشـت داوطلبـان واجـد شـرایط بـه تاریـخ ۱٤٤٤/۵/۱۱ سـاعت ۱۱:٠٠ قبـل از ظهـر در دفتـر کاری مدیریـت اراضـی تدویـر میگـردد اشـتراک نماینـد. البتـه اسـناد ناوقـت رسـیده و انترنیتـی بعـد از ضـرب العجـل تعیـن شـده رد میگـردد ، تضمیـن اخـذ میشـود.۳۰۷۵

## هلمند کې سلګونو کورنیو د څښاک پاکو اوبو ته لاس رسی پیدا کړ

شــریعت: د هلمند ولایت د کلیــو د بیارغونې او پراختیا ریاســت تر چتر لاندې او د (IRC) همکارې مؤسســې له لوري د هلمند ولایت د بســت (ښــاروالي) په بیلابیلو کلیوالي سیمو کې د اوبو رســولو پروژه چې (۲۳) حلقې پخواني غیر فعاله ژور څاه ګانې او لاســي پمپونه په کې شامل دي د ترمیم او بیارغونې چارې یې بشــپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې چې په پایله کې یې (۵۵۲) کورنیو د څښلو پاکو اوبو ته لاسرسی پیدا کړ.

## ځوانانو ته د کاري فرصتونو په ...

یې کړه چې، په تېر نظام کې د بادغیس ولایت ځوانانو ته هیڅ پاملرنه نه ده شوي چې باید اسلامي امارت ورته پاملرنه وکړي.
په ورته مهال د ځوانانو چارو معین محترم محمد یونس راشــد خبرې وکړې او د تعلیم او تحصیل په برخه کې یې د بادغیس ولایت ځوانانو کلک هوډ د ستاینې وړ وباله.
ښــاغلی راشــد همدا راز پر اړونده ادارو غږ وکړ چې ځوانانو ته د کاري فرصتونو په جوړولو کې کوټلې ګامونه پورته کړي، او د معینیت شته امکاناتو ته په کتو یې ځوانانو ته د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ.

## دا وطن به ابادوو او پرځان بسیا ...

زیاته یې کړه چې د دوی په سیمه کې باید لا ډېرې پرمختیایي پروژې تطبیق شي ترڅو ځوانانو ته د کارکولو زمینه برابره شي.
په همدې حال کې د رئیس الوزرا سیاســي مرستیال ډاډ ورکړ چې د اسلامي امارت د استازي په توګه د لغمان له والي سره په ګډه هڅو لغمان ته کار کوي او خلک دې په دې برخه کې هیڅ اندېښنه نه کوي.
مولوي عبدالکبیر وویل: عمومي عفوه لا هم پر ځای ده، موږ ټول د اسلامي امارت د ســرلوړي او بقا لپاره د ورونو په توګه کار کوو او تاســو پر موږ باور ولرئ چې دا وطن به ابادو او پرځان بسیا افغانستان به جوړوو.

## استوپهٔ تاریخی توپدره پروان، برنده ...

فرهنــگ و گرځنــدوی ریاســت اطلاعات و فرهنــگ پروان به خبرنگار آژانس باختر گفــت: در این برنامه که به گونهٔ آنلاین برگزار شــده بود، در مورد پروژهٔ اســتوپه توپدره، از ســوی جولیان لیسلی مشــاور ارشد موسسه اچکو معلومات ارایه شد و هیئت داوران، بر ســهم این پــروژه در حفاظت از میراث به جا مانده از یک دوره مهم در تاریخ افغانســتان، تاکید کردند.
اســتوپه توپدره پروان، بزرگترین اســتوپه در ســطح افغانستان و کشــورهای منطقه بــوده که هم اکنون، توجــه صدها تن از ســیاحین داخلی و خارجی را به خود جلب کرده است.
گفته می شــود که اســتوپه توپدره، بیش از ۱۸۰۰ سال قدمت تاریخی دارد که مربوط به دوره کوشــانی هــا (دوره بودیزم) اســت و به هزینهٔ نزدیــک به ۸۰۰ هزار دالــر بنابر تلاش‌های وزارت اطلاعات و فرهنگ بازســازی، مرمت کاری و حفریات در آن انجام شد.

## امارت اسلامی تسهیلات خوبی را ...

ســرمایه گذاری خارجی در افغانستان یاد کرد و گفت که افغانستان دارای معادن بزرگ است که فرصت‌های زیاد کاری و سرمایه گذاری را در این کشور مساعد کرده است وهر سرمایه‌گذار می‌تواند در بخش‌های مختلف سرمایه‌گذاری کند.
او از سرمایه‌گذارن ایرانی خواست که در افغانستان سرمایه گذاری کنند و وزارت صنعت و تجارت با آنان همکار است.

## یک شفاخانه به هزینهٔ ۶۹ میلیون افغانی...

ارائه خدمات صحی برای ساکنان محل مساعد شده است.
این شفاخانه در یک طبقه به طور پخته و اساسی به هزینهٔ شصت و نو میلیون افغانی از بودجهٔ وزارت صحت عامه اعمار شده است که در آن تمام ملحقات ضروری در نظر گرفته شده است.

## د بې ځایه شویو او راستنېدونکو د ستونزو ...

په همدې حال کې مولوي راشد د بغلان د چشمه شېر لېسې څخه هم لیدنه کړې، چې په یاده لېســه کې د راستنېدونکو او بې ځایه شویو کورنیو کوچنیان په زده کړو بوخت دي.
د یــادې لېســې ځینې برخې پــه تېرو کلونو کــې ویجاړې شــوې وې، چې د (UNHCR) دفتر په مرسته د بغلان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ بیا ځلې ترمیم شوې.

## د ۳۱ میلیونه افغانیو په لګښت د څوارلسمې ...

کوڅو کانکریټ چارې د کابل ښــاروال مولوي عبدالرشید او د ودانیزو چارو او ښاري ترانسپورټ د مرستیال انجنیر زمرک عامر یاسر له لوري پیل شوې.
دغه کوڅې څه باندې ۶ کیلو متره اوږدوالی او له ۳ – ۶ مترو پورې پراخوالی لري، چې د کابل ښاروالۍ له بودجې څخه د څه باندې ۳۱ میلیونه افغانۍ په لګښت په اساسي ډول رغول کېږي.
د دې کوڅو په کانکریټ کېدو ســره به د اوربښتونو په موسم کې د ختو او خاورو د شــتون له امله د ســیمې اوسېدونکو ســتونزې حل او ترڅنګ به یې خلکو ته ترانسپورتي آسانتیاوې هم رامنځته شي.

## پروان او بامیانو کې پر زرګونو اړمنو ...

د ابرار موسسې له لوري پر ۱۶۱۰ کورنیو نغدي او ژمنۍ مرستې وویشل شوې.
د ابرار موسسې د بېړنیو پروژو مسوول محمد جاوید نظري د باختر آژانس خبریال ته وویل، چې راتلونکي کې به د دغه ولایت ۸ ولسوالیو کې ۴ زره ۵۰۰ کورنیو ته ژمنۍ مرستې وویشل شــي، چې په کې هرې کورنۍ ته ۲۷۵ ډالره او درې ژمنۍ کمپلې ورکړل شي.

## کونړ: په سلګونو میله سپکې او درنې وسلې راټولې او اړوند کمېسیون ته وسپارل شوې

د کونړ ولایت د مانوګي او چپې درې ولســوالیو دلکی مشرانو او ولسي خلکو له خوا ۴۰۳ میله سپکې او درنې وسلې او لس ګونه زره فیره مهمات د اسلامي امارت د وسلو او وسایطو راټولولو ګډ کمېسیون ته وسپارل شوې چې اړوند امنیتي ارګانونو ته به ورکړل شي.
له همدې امله په جوړو شویو مراســیمو کې د کونړ والي مولوي احمد طه ســربېره د ۲۰۱ خالد بن ولید رض قول اردو مرســتیال مولوي محمد نظامي، امنیه قومندان عبدالحق حقـاني، په ختیځو ولایتونو کې د وسلو او وســایطو راټولو کمېسیون استازي مولوي سعید الله رضوان، استخباراتو ریاست مرستیال او نورو مسوولینو برخه اخیستې وه، چې د دلګی مشرانو ولسي خلکو څخه د مننې ترڅنګ له مســوولینو او خلکو وغوښتل چې د تصفیې، وسلو او وسایطو راټولولو کمېسیونونو سره همکاري وکړي.
د خالد بن ولید رض قول اردو مرستیال مولوي محمد نظامي او د کمېسیون استازي مولوي سعیدالله رضوان د څرګندونو پر مهال د بیت المال په تحفظ د ټینګار کولو ترڅنګ له خلکو وغوښتل چې پرته له څنډ ټول هغه نظامي وســایل، وسایط، وسلې او مهمات چې په غیرې قانوني توګه یې له ځان ســره ســاتلي کمېسیون ته وســپاري، د سرغړونې په صورت کې به ورســره شرعي، قانوني چلند وشي.



## لوګر: له ناورین ځپلو او د شهیدانو د وارثینو له زرګونو کورنیو سره مرسته وشوه

د بشردوســتانه مرســتو په لړ کې، د اومه موسســې له لوري د لوګــر ولایــت پــه مرکــز او ولســوالیو کې لــه (۳۰۰۰) زیانمنو او مســتحقو کورنیو ســره د غیرخوراکي توکو مرسته وشوه.
دغه مرســتې د لوګر ولایت په مرکــز، محمدآغې، برکي‌برک، څرخ او خروار ولســوالیو کــې د طبیعي پېښــو پر وړاندې د مبــارزې رئیس مولوي عبدالله مفکر پــه حضور کې پر اړمنو کورنیو وویشل شوې.
د یادونــې وړده چــې یــادې مرســتې د طبیعــی پېښــو پر وړانــدې د مبــارزې ریاســت پــه همــکارۍ ترســره شوې.

## لسګونه مجاهدین د مسلکي موټر چلولو له روزنېز کورس څخه فارغ شول

شریعت: پرون د ۲۰۳ منصوري قول اردو شاوخوا ۱۰۰ منسوبینو تــه د دریوري مســلکي زدکړو څخــه د فراغت غونډه ترســره شوه.
غونــډه چې د ۲۰۳ منصــوري قول اردو د ښــوونې او روزنې د مدیریــت لخوا د پکتیا ولایت د ټرافیکو د محترم مدیریت ســره په پوره تفاهم جوړه شــوې وه، د منصوري قول اردو درســتیزوال مولوي عبدالعلــي (جهادیار)، د ښــوونې او روزنې مدیر قاري حســن جان جهادیار، د پکتیا د ټرافیکو مدیر مولوي شاه محمد (منصــور) د قرارګاه یــو شــمېر مســؤلینو او مجاهدینو ګډون درلود.



د دریورۍ دغه مســلکي کورس چې دوه اونۍ وړاندې د ښوونې او روزنــې د مدیریت لخوا د پکتیا ولایت د ټرافیکو د مدیریت په پوره همکارۍ د نظامي منســوبینو لپاره پیل شو، وه تیره ورځ پای ته ورسیده.
فارغو شــویو منســوبینو د فراغت ســندونه ترلاســه کړل، چې د لیســنس او پوره اســنادو د ترلاسه کولو وروســته به په اړوند جزوتامونو کې د مســلکي او منظمو لیسنس لرونکو ډرایورانو په توګه په دندو وګمارل شي.

## بازداشت دو تن به اتهام قاچاق مواد مخدر ...

دو تن را از مربوطات فیروزکوه مرکز ولایت غور بازداشت کردند.
از نزد افراد بازاداشت شده، ۹۸۰ کیلو گرام انواع مواد مخدر، با یک میل تفنگچه و یک میلیــون و هفت صد هزار کلدار پاکستانی بدست آمده است.
طبــق یک خبر دیگر؛ نیروهای امنیتی غــور، دو تن دیگررا با هشــت هزار کیلو گرام مواد کیمیایی، کــه از آن در تولید مواد مخدر استفاده می شود، از قریه گاوکش ولسوالی تولک ولایت غور، بازداشت نموده و مواد مذکور را حریق نمودند.

## د افغانستان کرکټ بورډ له متحدو عربي اماراتو سره پنځه ...

د یاد هوکړه لیک له مخې به د افغانستان کرکټ بورډ د یادې مودې لپاره د اماراتو لوبډلې پر وړاندې هر کال درې شــل اوریزې لوبې کــوي، چې په بدل کې به یې افغــان کرکټ بورډ په یاد هېواد کې د لوبو د اجازې له فیسونو پرته د نورو لوبډلو کوربه توب کوي.
سربېره پر دې به متحده عربي امارات د یاد هېواد په ورزشي انګړ کې هم افغانســتان ته د کرکټ بورډ دفتــر ورکوي او دغه راز به د بازارموندنې او د مالي ملاتړ د موندنې په برخه کې اړینې مرستې او همکارۍ کوي.
د یاد هوکړه لیک له مخې به د متحدو عربي اماراتو کرکټ بورډ له افغانستان کرکټ بورډ ســره د افغانستان په کوربه توب د لوبډریو پر مهال د لوبډلو مســوولینو او لوبغاړو ته د ویزو په برخه کې هم اسانتیاوې رامنځته کوي.
د افغانســتان کرکټ بورډ اجراییوي رییس نصیب خان دغه هوکړه لیک له لاســته راوړنو ډک بللی او زیاته کړې یې ده، چې د دواړو لوریو ترمنځ د لا ډېرې همکارۍ یوه غوره پل دی.
په ورته وخت کې د متحدو عربي اماراتو د کرکټ بورډ مسوولینو هم په دې اړه خوښي څرګنده کړې او په وینا یې، خوشحاله دي، چې له افغانستان کرکټ بورډ ســره دغه هوکړه لیک، لاسلیکوي چــې دا کار به د دواړو کرکټ بورډونو ترمنــځ غوره همکاریو، د لوبغالي اسانتیاوو او نورو ډېرو برخو کې له یو بل سره د همکارۍ زمینه برابره کړي.
د یادونې وړ ده چې د دغه هوکړه لیک لاسلیک کېدل به د افغانستان کرکټ بورډ سره د کوربه توب لپاره د ډاډمن او د لاسرسي وړ ځای په برابرولو او د پیسو په سپما کې ډېره مرسته وکړي.

## لغمان ولایت له دوو لسیزو راهیسې له پامه غورځول ...

مشرانو، دیني عالمانو او عامو وګړو شتون درلود.
د لغمان والي قاري زین العابدین په دغه غونډه کې سرپرست وزیر ته د ښه راغلاست تر څنګ وویل، چې د یاد ولایت اړوند ولسوالۍ او سیمې په تېرو کلونو کې د ښوونې او روزنې، روغتیا او د ټولګټو پروژو د عملي کولو په برخه کې له پامه غورځول شوې وې، چې له کبله یې لغمانیان له ګڼو ستونزو سره مخ وو.
والي له اســلامي امارت په ځانګړې توګه د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت څخه غوښــتنه وکړه، چې ستونزو ته یې جدي پاملرنه وکړي. د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت سرپرست په دغه غونډه کې د لغمان له اولسونو سره ژمنه وکړه، چې ستونزې به یې د حل په موخه تر اړوندو ارګانونو ورسوي.
هېره دې نه وي، چې د ســرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت سرپرســت تر دې وړاندې د هېوادوالو د ستونزو اورېدو په موخه یو شمېر نورو ولایتونو ته سفرونو سربېره د بدخشان ولایت ته هم تللی و او هلته یې د پامیریانو ستونزې له نږدې واورېدې.

## د اسلامي امارت د اقتصاد محوره پالیسي د عملي کیدو ...

له نورو اړونده اداراو سره په بشپړه همغږۍ ترسره کړي.
بایــد وویــل شــي، چــې د بهرنیــو چــارو وزارت پــه نیمــروز ولایــت کــې د اســتازولۍ لپــاره نــوې ودانۍ د ۹،۵ میلیونــه افغانیــو پــه ارزښــت پیرلــې چــې د تجهیز او پــه کــې د عملــي کار پــه موخــه لازم تدابیــر ونیــول شول.

## هرات کې شاوخوا ۶۰ زره جریبه امارتي ځمکه تثبیت ...

کارونه پیل کړي او په دغو ولایتونو کې یې له غصب شــویو ســیمو او ځمکو څخه لیدنې کړې دي.
د کابل تخنیکي هیئت د حاجي جنت ګل ښــارګوټي مشهور په ملاتره خېل له اســتازو او قومي مشــرانو ســره وکتل او د ځمکې د غصب مخنیوي په اړه یــې د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله فرمان د هغوی لپاره تشــریح کړ.
د هــرات تخنیکي هیئت هم خپلــې غونډې جوړې کړې او خپــل عملي کار یې پیل کړ. دغه هیئت د مرســتیال والي په حضور ســره د میرمنه کاریز ســیمې څخه چې شاوخوا ۶۰ زره جریبــه ځمکه رانغــاړي، لیدنه وکــړه او د هغې امارتي کېدنه یې تثبیت او تشــخیص کړه.
یــاد هیئت کروخ ولســوالۍ کــې د ۱۶۴۵ جریبــه ځمکه، د اســلام قلعې د ســړک جنوب کې ۲۰۰۰ جریبــه ځمکه او د دغــه ولایت د ۱۳ مــې ناحیې په سیمه کې د ۲۷۰۰ جریبــه ځمکې موضوع هم وڅېړله او د کادســتر، ځمکو او د امارت د قضایاوو مســوولینو ته دنده وســپارل شــوه چې یــاد موضوعات وڅېړي او مؤثق معلومات یــې په راتلونکي غونډه کې وړاندې کړي.
د لغمان تخنیکــي هیئت د عمرزیــو، فیروزیو او الکوزیو د کلیو له ســیمو څخه د بیا لیدنې په ترڅ کې یو اندازه امارتي ځمکه تشخیص کړه. په دغو ســیمو کې ۵۶۱ جریبه ځمکې څخــه ۱۳۳ غاصبینو لــه لوري غصب شــوې او پر هغو یې باغونه، کورونــه، هدیرې او جوماتونه جــوړ کړي، له دغې غصب شــوې ځمکــې څخه یې ۲۰۰ جریبه ســپینه ده او د خلکو ترمنځ وېشل شوې ده.
او دغه راز په دایکندي نورســتان، غور او بدخشان ولایتونو کې هم د غصب شــویو ځمکو هیئت هــم خپل کارونه پیل کــړي دي او همدارنګه د پروان د تخنیکــي هیئت موندلې چــې په دغــه ولایت کــې ۲۱ زره جریبه ځمکــه تر غصب لاندې ده.

## عارضه تخنیکی پایه‌های برق در مسیر بغلان و ننگرهار ...

در ولایت‌هــای ننگرهار و بغلان عارضه تخنیکی پنجاه پایه برق را که در مســیرآن شارتی و ضایعات برق وجود داشت، رفع کردند.
مطابق این برنامه ۲۰ ترانســفارمر در ساحات مختلف شهر جلال آباد هم ترمیم شد.
شرکت برشــنا همچنان گفته اســت: جریان برق به منازل شــماری از مشترکین برق در شهر جلال آباد که صرفیه برق شان را پرداخت نکرده بودند، قطع شد.
این شرکت هشدار می‌دهد؛ برق منازل آن عده مشترکینی که صرفیه برق شان را نپرداخته اند قطع خواهد شد.
برشــنا شــرکت افزوده اســت که به منظور توسعه شبکه برق رســانی در کشــور۱۲۰ پایه برق را در ســاحات میرزا عبدالرحمن، نهرچمــن و نو آباد تالقان تخار نصب نموده و نزدیک به ۱۳۰۰متر لین و کیبل را در این ســاحات تمدید کرده اند.

# Shariat

Twice printed in week

**Shariat**
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: Shariatdaily@gmail.com
WWW: dailies.gov.af / shariat :ویب سایت

**شریعت**
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رییس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤول مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت بریښنا لیک: Shariatdaily@gmail.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوي ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Monday 28 November 2022 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 105


### پراګ کې د افغانستان سفارت:

## د افغانستان د اوسني حکومت استازیتوب کوو او د بهرنیو چارو له وزارت سره په تعامل کې یو



شریعت: په پراګ کې د افغانستان سفارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي: «په پراګ کې د افغانستان سفارت د خپل هیواد نمایندګي کوي او هلته د حاکم نظام سره په تماس کې دی».

په اعلامیه کې راغلي: د افغانستان سفارت له هر ډول توپیر پرته د سفارت ټولو محترمو مراجعینو ته خبر ورکوي چې سفارت د هیوادوالو د ستونزو د حل او ورته د اړینو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره، په کابل کې د بهرنیو چارو وزارت سره په تعامل کې دی.

همدارنګه په اعلامیه کې ویل شوي: محترم مراجعینو کولای شي چې د رسمي کاري ساعتونو په جریان کې د قونسلګرۍ خدماتو لپاره سفارت ته مراجعه وکړئ.

### پکتیا کې د ۳۵۰ زره ډالرو په ارزښت یوه مدرسه او دارالاېتام رغول کېږي

د پکتیا مرکز ګردېز ښار کې د ترکیې هېواد په مالي ملاتړ د ۳۵۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت د جامعه شمس العلوم روحانیه په نوم د یوې دیني مدرسې او دارالاېتام د بنسټ ډبره کېښودل شوه. د دغه مدرسې مهتمم مولوي عنایت الله منقاد د باختر آژانس سره په خبرو کې وویل، چې دغه مدرسه او دارالاېتام په یو نیم جریب ځمکه باندې په ۴ پوړونو کې له ټولو آسانتیاوو سره په اساسي ډول رغول کېږي، چې چارې به یې د ۱۰ میاشتو موده کې بشپړې شي.

د یادولو وړ ده، چې په دغه مدرسه کې به ۵۰۰ تنه یتیمان له لیلیې څخه په ګټې اخیستنې سره په وړیا ډول دیني او عصري زده کړې ترسره کوي.

### د خوړو او درملو ملي اداره:

## شرکتونه باید د معیارونو او سټنډرډونو په نظر کې نیولو سره هېواد ته درمل وارد کړي

د افغانستان د خوړو او درملو ملي اداري عمومي رییس ډاکټر عبدالباري عمر پرون په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د فرانسې نړیوالو ډاکټرانو موسسې یا MDM له مسوولینو سره وکتل.

په دغې کتنه کې عبدالباري عمر هغوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ د درملو واردلو برخه کې د هغوی ستونزې واورېدې.

نوموړي همدارنګه وویل، چې هر موسسه باید معیارات او قانون په نظر کې ونیسي او د خوړو او درملو ملي اداري د معیاراتو او سټنډرډونو له مخې دې افغانستان ته درمل وارد کړي.

په دغې کتنه کې د خوړو او درملو ملي اداري مشر د ادراې د لا پرمختګ لپاره یو شمېر وړاندیزونه هم د یادې موسسې له مسؤلینو سره شریک کړل.

دا په داسې حال کې ده، چې اوسمهال د درملو پر یو شمېر شرکتونو له دې امله نیوکې کېږي، چې ګواکې د خپلې ګټې په خاطر هېواد ته بې کیفیته درمل واردوي او په دې سره د ناروغانو له ژوند سره لوبې کوي.

### د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال:

## د سوداګرو ستونزو ته جدي پاملرنه کېږي

شریعت: د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر پرون د سادات ګروپ کمپنیو له رئیس سید کمال ایشان سره وکتل. په دې کتنه کې چې په سپیدار ماڼۍ کې ترسره شوه، د سادات ګروپ کمپنیو رئیس د کورنیو تولیداتو د پیاوړتیا، اقتصادي ودې او سوداګرۍ د پراختیا په برخو کې خپلې مشورې او وړاندیزونه د ریاست الوزراء له سیاسي مرستیال سره شریک کړل. نوموړي دغه راز له خصوصي سکتور څخه د اسلامي امارت د لا زیات ملاتړ غوښتلو ترڅنګ د شمال د سوداګرو او پانګوالو ستونزې هم د ریاست الوزراء له سیاسي مرستیال سره شریکې کړې. د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر په دغه کتنه کې وویل، چې اسلامي امارت د سوداګرو ستونزو ته په جدي ډول پاملرنه کوي. نوموړي زیاته کړه، چې اسلامي امارت د اقتصادي ودې لپاره د سوداګرو د وړاندیزونو، مشورو او پانګونو هرکلی کوي. نوموړي پر ټولو افغان سوداګرو غږ وکړ چې په هېواد کې پانګونه وکړي او ډاډ یې ورکړ، چې اسلامي امارت د خپلو امکاناتو په چوکاټ کې سوداګرو ته اسانتیاوې برابروي او ملاتړ یې کوي.

### د ځوانانو چارو معین اړونده ادارو ته:

## ځوانانو ته د کاري فرصتونو په جوړولو کې کوښښ ګامونه پورته کړي




شریعت: د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ځوانانو چارو معین قاري محمد یونس راشد د بادغیس ولایت د ځوانانو سره په مخامخ مناظره کې ګډون وکړ.

یاده مناظره چې موخه یې د بادغیس ولایت د ځوانانو د ستونزو اورېدل او هغو ته د حل لارې پیدا کول په موخه جوړه شوې و، د بادغیس د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په تالار کې ترسره شوه، چې د ځوانانو چارو معین ترڅنګ پکې د محلي اداري چارواکو او ګڼ شمیر ځوانانو ګډون کړی وو.

د مناظرې په لړ کې د یاد ولایت ځوانانو د تعلیم، تحصیل او د کار د نه شتون له امله خپلې ستونزې او وړاندیزونه د ځوانانو چارو له معین سره شریک کړل او زیاته ... ۷ مخ

۷ مخ



## ننګرهار کې د ۲۳،۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوې پروژې چارې پیل شوې

د ننګرهار مرکز، جلال اباد ښاروالۍ په هڅو او د (UNOPS) په مالي ملاتړ د افغانستان د ټولنیز ملاتړ او معشیت پروګرام تر نامه لاندې د ۲۳،۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو کیلو متر په اوږدوالي او ۹ متره په پلنوالي د اوومې ناحیې په مربوطاتو کې د ننګرهار پوهنتون مخې ته پیاده روو او ګلدان سره د ټولو اړینو ملحقاتو په اساسي او معیاري توګه رغولو چارې پیل شوې.

د جلال اباد ښاروال حاجي ملا نعمت الله اخند وویل، دا د هغه ۵۸ پروژو برخه ده چې د ملګرو ملتونو د پروژې خدمتونو دفتر له لوري به په راتلونکې کې په نورو ناحیو کې هم تطبیق کېږي، چې د بیا رغونې ترڅنګ به زرګونه خلکو ته پکې د کار کولو زمینه برابره شي.

په مراسمو کې د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس انجینر دوست محمد وویل، چې په دغه پروژه کې دوو شرکتونو له لوري یې چارې ترسره کېږي، پیاده روو، ګلدان او ویاله جوړول شامل دي.

همدا شان به په دغه پروژه کې ۳٦۰ کسان هره ورځ کار کوي، چې دا د سیمې خلکو لپاره په کاري برخه کې د جلال اباد ښاروالۍ له لوري ښه زیری دی او ددې پروژې چارې به په ۳ میاشتو کې بشپړې شي.

## په پکتیا کې له زرګونو اړو کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته وشوه



شریعت: د بشري مرستو په لړ کې د پکتیا د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست تر نظارت لاندې د خوړو د نړیوال پروګرام (WFP) په مالي همکارۍ د (AWCPO) موسسې له لوري په اریوب ځاځیو ولسوالۍ کې پر ۲۷۰۰ بېوزله کورنیو د پنځم ځل لپاره د خوراکي توکو مرسته ووېشل شوه.

په دغه مرسته کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو وړه، ۴.۵۵ کېلو غوړي، ٦.۲۵۰ کېلو دال او یو باکټ د خوړو مالګه شامله وه.

پکتیا کې د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست د بشري مرستو څخه د ښه تطبیق په موخه نظارت تر سره کوي او ولسونو ته ډاډ ورکوي چې په منظم ډول به دغه چاره تر سره کوي او تر مستحقو کورنیو به بشري مرستې ور رسوي.

## ننګرهار کې د پاسپورټ او تذکرو د جعلکارۍ په تور یو تن ونیول شو

شریعت: د ننګرهار ولایت د امنیې قوماندانۍ مسوولین وایي، چې د یاد ولایت په مرکز جلال آباد ښار کې یې یو تن د جعلي پاسپورټونو او پېژندپاڼو د جوړولو په تور نیول دی. د ننګرهار امنیتي مسوولینو په وینا نیول شوي کس په جلال آباد ښار کې خلکو ته جعلي پاسپورټونه او پېژندپاڼې جوړولې. د یو بل خبر له مخې؛ د بلخ امنیتي مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په مرکز مزار شریف ښار کې د احسان قوماندان په نوم یو تن غل له امنیتي ځواکونو سره په نښته کې وژل شوی دی.

## استوپهٔ تاریخی توپدره پروان، برنده جایزه شایستگی و لیاقت یونسکو شد



استوپه تاریخی توپدره پروان، از طرف سازمان یونسکو مستحق دریافت جایزه شایستگی ولیاقت شناخته شد.

این جایزه، بخشی از جوایز آسیا و اقیانوسیه یونسکو در سال ۲۰۲۲ است که برای حفاظت از میراث فرهنگی مدنظر گرفته شده است.

خبر اعطای این جایزه، برای استوپه پروان، روز گذشته در بنکاک پایتخت تایلند اعلام شد.

کار بازسازی و مرمت کاری استوپه توپدره در پروان، بین سال های ۲۰۱٦ و ۲۰۲۰ از سوی موسسه مشورتی و حفظ میراث‌های فرهنگی افغان، تحت نظارت باستان شناسان وزارت اطلاعات وفرهنگ انجام شد.

استوپه توپ دره، یکی از سیزده پروژه برنده است که از شش کشور مختلف در سراسر منطقه انتخاب شده است.

عبدالغفار روفی، آمر... ص۷

ص۷

## بازداشت دو تن به اتهام قاچاق مواد مخدر در غور



شریعت: نیروهای امنیتی غور، از بازداشت دو تن با ۹۸۰ کیلو گرام مواد مخدر، خبر دادند.

عبدالرحمن بدری سخن‌گوی قومندانی امنیه ولایت غور می‌گوید که پولیس مبارزه با مواد مخدر این ولایت، این ... ص۷

ص۷

### لغمان والي:

## لغمان ولایت له دوو لسیزو راهیسې له پامه غورځول شوی او اوس باید د دغه ولایت ستونزو ته جدي پاملرنه وشي



شریعت: د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت سرپرست ملا نوراللہ نوري د یوه پلاوي په مشرۍ پرون لغمان ولایت ته سفر وکړ.

په هغه غونډه کې، چې له همدې کبله جوړه شوې وه د یاد ولایت د والي قاري زین العابدین سربېره د بېلابېلو ولسواليو قومي ۷... مخ

۷... مخ

## کمک نقدی با خانواده‌های نیازمند در سمنگان

شریعت: با ۹۳۱ خانواده فقیر و بی بضاعت در سمنگان، کمک نقدی صورت گرفت.

موسسهٔ زنان برای زنان، ۲٦۵ هزار دالر پول نقد را برای ۹۳۱ خانوادهٔ نیازمند در مرکز و ولسوالی‌های دره صوف پایین، روی دو آب، خرم سارباغ و حضرت سلطان سمنگان توزیع کرد.





**توجه !**
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!



شریعت
شریعت جریده داسلامي مبارزې یو رسا غږ او رښتیني هینداره ده، نو له ټولو مخلصو او با احساسه دعوتګرانو او دردمنو لیکوالانو هیله من یو چې موږ سره خپلو قلمي همکاریو ته دوام ورکړي.